د افغانستان اسلامي امارت
د پوهنې وزارت
د مقام د دفتر لوی ریاست
د نشراتو او عامه اړیکو ریاست

سال یکصد و چهارم
شماره مسلسل (٦١٨)

ماه رمضان المبارک ١٤٤٦ هـ. ق.
مطابق ماه حوت ١٤٠٣ هـ.ش.

# عرفان

ښوونیزه، ادبي، څېړنیزه او ټولنیزه مجله

**کومه مسئله چي**
**د طالب العلمانو تر استعداد**
**لوړه وي او یا اختلاف پیدا کوونکې**
**وي؛ د هغه له بیانولو دي پرهیز وشي.**

**د دیني مدرسو استادانو ته**
**د عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ القرآن و الحدیث**
**مولوي هبة الله آخندزاده (حفظه اللهتعالی)**
**له هدایاتو څخه**





د افغانستان اسلامي امارت

د پوهنې وزارت

د مقام د دفتر لوی ریاست

د نشراتو او عامه اړیکو ریاست

# Erfan

Educational, Cultural, Research & Social Magazine





بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اَلحَمدُلِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلامُ عَلٰی
سَیِّدِالمُرسَلِینَ وَ عَلٰی آلِہٖ وَأَصحَابِہٖ أجمَعِین.

د پوهنې وزارت

# عرفان

یو سلو څلورم کال، پر له پسې (۶۱۸) ګڼه د ۱۴۴۶ ق. کال رمضان المبارک میاشت او ۱۴۰۳ شمسي کال د حوت میاشت

د امتیاز خاوند: د پوهنې وزارت

کتنپلاوی

الحاج مولوي شهاب الدين «ثاقب»
مولوي عزيز احمد «ريان»
مفتي حبيب الله «نوري قتاده»
ماستر سيد عنايت الله «همدرد»
استاد عبدالرحمن «فارح»
څېړنپوه دکتور عبدالقيوم «مشوانی»
احمد شعيب «حقيقي»
عبدالصبور «غفراني»
معراج «زماني»
محمد نسيم «عياذ»

مسئول مدير
ماستر جاويد بهرام خيل

انځورګر
محمد ادريس «نوري»

د اړیکي شمېره: ۰۰۹۳۷۲۹۸۱۹۰۳۳
بریښنالیک
Erfan.magazine1400@gmail.com

چاپ شمېر: ۱۵۰۰ جلد

## په دې ګڼه کې

په پښتو ژبه او ادب کې نثر او د هغه دوړونه
تأثیرات سن بر یادگیری دانش آموزان در دوره‌های مختلف سنی
د ارزونې مفهوم
نظام آموزشی و تعمیم فرهنگ در عصر غزنویان
یو شعر و دوه شاعران
د کانکور، ستونزې، ننګونې او حل لارې

د عرفان مجلـه د مطالبـو پـه تصحيـح کـې خپلواکـه ده، راغلـې ليکنـې لـه اداره سـره پاتـې کېـږي.
د عرفـان مجلـه د ليکـوال د ليکنـې ننګـه نـه کـوي، هـر ليکـوال تـه ښـايي چـې د خپلـې ليکنـې ننګـه پـه خپلـه وکـړي.

د پوهنې وزارت
ښوونیزه، ادبي، څېړنیزه او ټولنیزه مجله

د تأسيس کال: ۱۳۰۱ هـ ل.

# لړلیک


| د دې ګڼې مطالب | لیکوال | مخ |
|---|---|---|
| سرلیکنه | مسئول مدیر | ۱ |
| په پښتو ژبه او ادب کې نثر او د هغه دوړلونه | مؤلف وحیدالله عمري | ۳ |
| تأثیرات سن بر یادگیری دانش آموزان ... | میر عتیق الله صدری | ۹ |
| په ښوونیز نظام کې د ساینسي لابراتورونو ... | سمیع الله شاهد | ۱۳ |
| بررسی اصول و کاربردهای شیمی سبز در... | صفیه احمدی | ۱۵ |
| د ارزونې مفهوم | عبدالصادق رښتین | ۱۹ |
| نظام آموزشی و تعمیم فرهنگ در عصر غزنویان | سرمحقق عبدالجبار عابد | ۲۳ |
| یو شعر و دوه شاعران | څیړنپوه دکتور عبدالقیوم مشوانی | ۳۵ |
| د کانکور، ستونزې، ننګونې او حل لارې | پوهنیار مسعود حسن زی | ۴۲ |

# سرمقاله

## افق‌های جدید در تحقیقات علمی

در دنیای امروز، علم و فناوری به عنوان محرک اصلی پیشرفت‌های اجتماعی، اقتصادی و فرهنگی شناخته می‌شود. دانشمندان در گوشه و کنار جهان به دنبال کشف‌های جدید، توسعه فناوری‌های نوین و حل مسائل پیچیده علمی هستند.
این روند، چالش‌ها و فرصت‌های جدیدی را به همراه دارد که نه تنها زندگی بشر را تحت تأثیر قرار می‌دهند بلکه به صورت مستقیم بر آینده جوامع و کشورهای مختلف اثر می‌گذارند. یکی از مهم‌ترین مسائلی که در عرصه تحقیق و توسعه مطرح است، تعامل و هم‌افزایی میان رشته‌های مختلف علمی است. علم، به عنوان یکی از بزرگ‌ترین دستاوردهای بشر، همواره در مرکز توجه جامعه علمی و فرهنگی قرار دارد. از اولین تجربیات علمی انسان در دوران باستان تا پیشرفت‌های شگرف در قرن بیستم و بیست و یکم، علم همواره چراغ راه بشریت در مسیر پیشرفت و تعالی بوده است. اما این مسیر هیچ‌گاه هموار نبوده است. محققان با توجه به محدودیت‌های زمانی و منابع، همواره با مشکلات مختلفی روبه‌رو بوده‌اند. اما قدرت علم در حل مشکلات، از بیماری‌های واگیر گرفته تا بحران‌های زیست‌محیطی، ثابت کرده است که همواره می‌توان به آن به عنوان ابزاری برای بهبود شرایط زندگی بشر اعتماد کرد.امروزه، علم به سرعت در حال تکامل است و در بسیاری از حوزه‌ها شاهد رشد تصاعدی دانش هستیم.
در دنیای امروز که بسیاری از مشکلات جهانی از تغییرات اقلیمی گرفته تا بحران‌های صحی جهانی همه ارتباط مستقیمی با توسعه و استفاده از فناوری‌ها و دانش علمی دارند.علم نه تنها یک ابزار برای درک بهتر دنیای اطراف ماست، بلکه به‌عنوان اساسی ترین وسیله  برای حل مسائل اساسی بشر در قرن بیست و یکم عمل می‌کند. علم

است که قادر به ارائه راه‌حل‌های نوین و مبتنی بر شواهد برای مشکلاتی است که جوامع بشری با آن‌ها مواجه‌اند. در حالی که پیشرفت‌های علمی امکان دسترسی به منابع جدید انرژی، درمان‌های نوین، و ارتقای کیفیت زندگی را فراهم می‌آورد، از سوی دیگر، با پرسش‌های اخلاقی و مسئولیت‌های اجتماعی نیز روبه‌رو است. علم این امکان را فراهم کرده است که دانشمندان از سراسر دنیا با هم تعامل و همکاری کنند و بدین ترتیب به تسریع در حل مسائل جهانی بپردازند.

تبادل ایده‌ها و تجربیات میان محققان مختلف، علاوه بر غنای علمی، می‌تواند منجر به یافتن راه‌حل‌های مشترک برای چالش‌های جهانی مانند تغییرات اقلیمی، بیماری‌های نوظهور و فقر شود. کشور ما که بعد از چندین دهه جنگ و اشغال به یک صلح سراسری رسیده است و مردم رنجدیده ما حالا نفس راحت و آرام میکشند برخود لازم بدانند که در چنین یک فرصت طلایی از هیچ گونه سعی و تلاش در جهت آبادی، ترقی و پیشرفت کشور دریغ نه ورزند رهبری وزارت معارف مصمم است که باهمه امکانات دست داشته در جهت غنامندی نظام آموزشی کشور به جدو جهد خود بیشتر از پیش ادامه خواهد داد رهبری وزارت معارف مطمین است کشورهایی که بر علم، تحقیق و نوآوری تأکید دارند، به سرعت در زمینه‌های اقتصادی، اجتماعی و فرهنگی به پیشرفت‌های چشم‌گیری دست می‌یابند. با سرمایه‌گذاری در علم و فناوری، می‌توانیم زیرساخت‌های لازم برای توسعه پایدار و ایجاد فرصت‌های شغلی و بهبود کیفیت زندگی را فراهم کنیم. با امید و توکل به ا لله جل جلاله به زودی به این آرمان بزرگ که آرزوی فرد فرد هموطن ما است خواهیم رسید. ان شاءالله

مؤلف وحیدالله عمري

# په پښتو ژبه او ادب کې نثر او د هغه ډولونه

**سریزه**

نثـر چـې پوهـان یـې پـه لغـت کـې شـیندل او پاشـل او پـه ګرنـه کـې یـې هغـه کلام بولـي چـې د وزن او قافـي لـه قیـده آزاد وي. د ژبـې او ادب پـه وده او پرمختـګ کـې بنسـټیز اصـل دی، چـې مطالـب، مفاهیـم، واقعیتونـه او ارزښـتونه د هغـه پـه وسـیلې سـره انځـور ېږي؛ کـه چېرې نثـر نـه وای یـا یـې پـه پښـتو ژبـه کـې هـم لکـه د نـورو ژبـو پـه شـان وده نـه وای کـړې نـو د پښـتو ژبـې نننـی پرمختـګ بـه شـونی نـه وو، د دې خبـرې څخـه چـې لـرې پـه ارخ شـو، پښـتو نثـر د پښـتو ادبـي دور پـه اوږدو کـې د بشـپړېدو پړاونـه وهلـي او خپـل کمـال تـه رسـېدلی دی. پـه کلاسـیکه ادبـي دوره کـې د سـاده نثـر بنسـټ ایښـودونکی خوشـحال خـان خټـک او د متکلـف یـا مسـجع نثـر منځتـه راوړونکـی او کمـال تـه رسـونکی بایزیـد روښـان انصـاري دی، د دغـو ښـاغلو څخـه وروسـته نـورو پوهانـو او لیکوالـو د ادب پـه بېـلا بېلـو دورو کـې د پښـتو نثـر د لا ښـه سمبالښـت لپاره هڅـې او هانـد کـړي چـې هـر یـو یـې د سـتاینې او پالنـې وړ دی. پښـتو نثـر د ادب د تاریـخ پـه بېلابېلـو دورو کـې وده او پرمختـګ کـړی دی چـې هـر یـو یـې د تاریـخ پـه زرینـو پانـو کـې ثبـت دی. نثـر یـې د وخـت او سـیمې د ژبـو لـه نثـر سـره سـیال کـړی او نـن پـه دې برخـه کـې ډېرې څېړنـې تـر سـره شـوې دي چـې د پښـتو ژبـې نثـر یـې لـه هـره اړخـه د بداینـې لـور تـه بیولـی دی، چـې د ټولـو برخـو سـپړنه د دغـې مقالـې لـه حوصلې څخـه بهـر ده او یواځـې پـه دغـه مقالـه کـې د نثـر د پېژندنـې، د ډولونـو او نـورو ځانګړنـو پـه اړه څـه نـا څـه معلومـات وړانـدې شـوي دي او خـدای دې وکـړي چـې ادب او د دغـه فـن مینـه والـو تـه پـه یـوه ورکـې خدمـت کـې وشـمېرل شـي.

**د موضوع مبرمیت**

لکـه څنګـه چـې نثـر او نظـم د ژبـې او ادب لـه بشـپړاندو توکـو څخـه شـمېرل کېـږي، نـو نثـر د ژبـې زده د کـړې څلـورم اصـل پـه توګه(لومـړی اصـل اورېـدل، دویـم اصـل خبـرې کـول، درېـم اصـل لوسـتل او څلـورم اصـل لیـکل) د یـوې ژبـې بنسـټ او پرمختـګ منځتـه راوړې او د دغـه فـن د څېړونکـو لپـاره د هغـه پـه ډولونـو بانـدې مهـارت تـر لاسـه کـول اړیـن کار او ضـروري مسـئله ده.

**موخه**

د دغې مقالې ليکنې څخه مو موخه په نثر او د هغه په ډولونو باندې مهارت او پوهه ترلاسه کول دي.

**ارزښت**

د دغې موضوع ارزښت په دې کې دی چې که څېړې ليکونکې په دغو اصولو او اساساتو باندې سم پوه نشې او د ليکلو په وخت کې د هغو مراعات ونه کړي نو ليکنې به يې ګډې وډې او له بې نظمۍ سره مخ شي.

**په پښتو ژبه او ادب کې نثر او ډولونه يې**

زموږ په فرهنګي عنعنه کې دا دود دی، چې ټول ادبي آثار په لومړي سر کې د بڼې له مخې پر دوو سترو برخو وېشي، چې يوې ته يې شعر او نظم او بلې ته يې نثر وايي، او دا هره برخه بيا د بڼې او منځپانګې يا معنا له مخې ځانته بېل بېل ډولونه لري، موږ دلته په دې ليکنه کې له همدې وېش څخه کار اخلو او دنثر په اړه د ادب د يوې ځانګړې برخې په توګه بحث کوو.

**د نثر لغوي او اصطلاحي پېژندنه**

د پښتو ادبي اصطلاحاتو (فضليات) په حواله: «په لغت کې د نثر معنا شيندل، شنل، پاشل، نوستل او پرېشاند کول دی په اصطلاح کې هغه ليک يا خبرې چې بغير د څه بناوت او جوړښت داسې آزادۍ سره وليکلی شي يا وويلی شي چې د وزن پابنه دې پکې نه وي، د الفاظو ترتيب يې فطري، زباني يا تحريري وي.» نثر ويل کېږي.

نثر عربي کلمه ده، لغوي معنا يې تيتول او شيندل ده او په اصطلاح کې هغه وينا يا ليکنه چې د وزن او قافيې له بند او قيد څخه آزاده وي، خو د ادبپوهانو په اصطلاح نثر يو ادبي ډول دی او ځرنګه چې د وزن او قافيې له قيد څخه خلاص دی، نو د هر ډول افکارو د افادې او بشري پوهې، ديني، ښوونيزو او روزنيزو مسايلو د څرګندولو مناسبه وسيله ده او نثر له عادي وينا او خبرو اترو نه لوړ دی.

د ليکنې او طرز له مخې د نثرډولونه: د ليکنې او طرز له مخې نثر په درې ډوله دی.

۱ـــ ساده يا مرسل

هغه نثر دی چې لفظي او معنوي صنايع پکې نه وي کارول شوي.

۲ـــ فني نثر

چې ليکوال ورسره خپل احساسات او عواطف هم ملګري کوي او يا په بله وينا :د مطالبو د افادې لپاره له تخيلي ځواک نه کار اخلي.

۳ـــ ساده ولسي نثرونه

چې کټ مټ د خلکو په ژبه، چې څنګه ويل کېږي هماغسې ليکل کېږي.

**د بڼې له مخې د لرغونو نثرونو ډولونه**

د پښتو او دري ژبو لرغوني نثرونه د بڼې له مخې په درې ډوله دي.

الف ـــ متکلف نثرونه

چې د ټولنې د باسواده قشر له خوا د عربي

ژبې تر اغېزې لاندې لیکل شوې،کرکېچ پکې ډېر دی په پښتو کې د سلیمان ماکو «تذکرة اولیا»د دې نثر یوه غوره بېلګه ده.

ب ـ قافیه وال (مقفی) یا مسجع نثرونه

چې لیکوال پکې وزن او سجع لرونکې کلمې د شعر د قافیو په څېر کاروي په پښتو کې د دې نثر غوره بېلګې د بایزید روښان «خیرالبیان»او د اخوند درویزه «مخزن الاسلام»ګڼلی شو.

ج ـ ساده او روان نثرونه

هغه نثرونه دي چې نه پکې سجع لیدل کېږي او نه پکې د متکلفو نثرونو په څېر کرکېچ ښکاري، بلکې لیکوال هڅه کړې، چې د عام پوهاوي لپاره د خلکو محاورې ته نیږدې نثر ولیکي. په پښتو کې یې غوره بېلګه د خوشحال خان خټک «دستارنامه»ده.

د مانا او محتوا له مخې د نثري آثارو ډولونه

د محتوا او موضوع له مخې په عامه توګه نثري آثار په لاندې ډولونو وېشل کېږي:

۱ـ حماسي نثري آثار

چې پخواني او اوسني ملي حماسې، مسایل او د اتلانو ویاړلې کارنامې پکې څېړل کېږي.لکه

۲ـ غنایي نثري آثار:

چې دمیني محبت عاطفي اواحساسي مسایل پکې بیانېږي.

۳ــ تاریخي نثري آثار:

چې د ټولنې قوم، ملت او خلکو سیاسي، ټولنیزې او علمي پېښې پکې بیانېږي.

۴ــ دیني نثري آثار:

په دې ډول آثارو کې د دیني او مذهبي مسایلو پېژندنه شامله ده، د قرآن کریم تفسیرونه، د حدیثو ژباړې او شرحې او د دین د ارکانو پوهنه او پېژندنه پکې خونه دي کېږي.

۵ ــ عرفاني نثري آثار

د نفس د تزکیې او روحاني روزنې په اړه د دین د برحقه علماؤ او د طریقت د خاوندانو د افکارو بیان دی

۶ــ اخلاقي نثري آثار

د افرادو او ټولنې د اخلاقي روزنې او خیر ښېګنې اړوند مطالب پکې بیانېږي.

۷ــ علمي او فلسفي نثري آثار:

د علم او پوهې د بېلابېلو څانګو، منطق او فلسفې اړوند ژورې څېړنې او لیکنې دي.

۸ ـ انتقادي نثري آثار

د ژوند او ټولنې د بېلابېلو مسایلو او اړیکو په اړوند ژورې او د کره کتنې په ترڅ کې د ښېګڼو او بد ګڼو ښودنه یا د ښو ستاینه او د بدو غندنه پکې کېږي.

۹ــ د مشاهیرو احوال:

په دې ډول آثارو کې د دین او نورو علومو او فنونو د پوهانو او ټولنیزو شخصیتونو ژوند پېښې، د پیغمبرانو ،اولیاؤ، حکیمانو، ادیبانو او پوهانو د ژوند حالات شامل دي.

۱۰ــ په ژبې او ادبیاتو پورې اړوند منثور آثار

په دې ډول آثارو کې ټولې ژبنۍ او ادبي څېړنې راځي. یا په بله وینا:

د ژبپوهنې او ادبپوهنې بېلابېلې څانګې پکې

شـاملې دي دغـه آثـار لانـدې ډولونـه لـري:

الف ـ د بلاغت فنون

معانـي، بديـع او بيـان پکـې شـامل دي، چـې معانـي د حـال او ځـای لـه غوښـتنو سـره د کلام او وينـا لـه سـمون (مطابقـت) څخـه او بيـان پـه بېلابېلـو الفاظـو او عبارتونـو د يـوې ځانگـړې معنـا لـه اسـتعمالولو او بديـع د وينـا لـه لفظـي او معنـوي ښـکلاوو او صنعتونـو څخـه بحـث کـوي.

ب ـــ د عروضو او قافيې علم پورې اړوند آثار

چــې د اشــعارو د وزن او د بيتونــو د وروســتيو همغـږو برخـو او کلمـو لـه ځانگړنـو او څرنگوالـي څخـه بحـث کـوي.

د ـــ گرامـري آثـار: چـې د ژبـې د املأيي او انشـايي ځانگړنـو او د آوازونـو، کلمـو، فقـرو، جملـو او عبارتونـو لـه جوړښـت څخه بحـث کـوي.

هــ ـــ د ليکوالۍ يا ليکنې هنر په اړه آثار

چــې د کتــاب، مقالــې، کتابگوتــي (رســالې) شــخصي او رســمي ليکونـو بېلابېـل ډولونـه پکـې راځـي.

و ـــ ادبي څېړنې

پـه دې برخـه کـې د ادبـي سـبک او مکتـب پېژندنـې، ادبـي تيـوري، ادبـي کـره کتنـې، ادبـي تاريـخ، ادبـي تحليلونـه او نـور چـې پـه خپلـه ژبـه کـې د څېـړنې او يالـه نـورو ژبـو څخـه د ژباړنـې لـه لارې ترسـره کېـږي.لکه دصديـق روهـي ادبـي څېړنـې

د نثري آثارو دوديزه (معموله) وېشنه

د نثـري آثـارو يـوه بلـه دوديـزه او معمولـه وېشـنه پـه دې ډول شـوې ده:

۱ـ تشريحي نثر؛

۲ـــ استدلالي نثر؛

۳ـــ تـوصيفي نثر؛

۴ـــ داسـتـانـي نثر؛

چـې لـه تشـريحي نثـر څخـه زياتـره د علمـي تحليلـي، مقايسـې او تصنيـف لپـاره کار اخيسـتل کېـږي، پـه اسـتدلالي نثـر کـې ليکـوال هڅـه کـوي چـې د دليـل او برهـان لـه لارې لوسـتونکي يـا اورېدونکـي د يـوې خبـرې پـه سـموالي بانـدې قانـع کـړي، پـه توصيفـي نثـر کـې موضوع داسـې بيانېـږي، چـې ليکونکـی مقابـل لـوري تـه خپـل احسـاس انتقـال کـړي او پـه داسـتاني نثـر کـې خيالـي يـا واقعـي ريښـتيني پېښـې د زمـان او مـکان پـه ترتيـب بيانېـږي.

لومړی تشريحي نثر

تشـريحي نثـر د تعريفونـو، جريانونـو يـا بهيرونـو، مفکـورو، تصميمونـو او اصولـو لـه بيانولـو او څرگندولـو سـره اړه لـري، لـه همـدې کبلـه يـې احساسـات او ښـکلايز اړخونـه چنـدان پـه پـام کـې نـه نيـول کېـږي او پـه نشـت حسابېـږي. لـه تشـريحي نثـر څخـه زياتـره د علمـي، تحليـل، ترکيـب، مقايسـې او تصنيـف لپـاره کار اخيسـتل کېـږي. دې نثرتـه توضيحـي نثـر هـم ويـل کېـږي.

دويم استدلالي يا منطقي نثر

څرنگـه چـې تشـريحي نثـر پـه ټوليـزه توگـه يـوه موضـوع يـا مفکـوره تشـريح کـوي، خـو اسـتدلالي نثـر هڅـه کـوي چـې د منطـق او برهـان پـه

واسطه لوستونکی، یا اوریدونکی د یوه تېزس په صحت یا بطلان قانع کړي، برهاني نثر د ذهني اقناع او عمل د هڅوني او په یوه مفکوره د راګرځوني یا معتقد کولو لپاره کارول کېږي.

درېم توصيفي نثر

په ستاينيز يا توصيفي نثر کې د حسي تجربې (عاطفي، ادراک) موضوع په داسې ډول بيانېږي، چې ليکونکی مقابل لوري ته خپل احساسات لېږدوي او په هغه کې عاطفي عکس العمل راپاروي. ستاينيز نثر يوه پېښه، يوه منظره، يو شخص يا خلک يا څيزونه د يوه ټاکلي هدف سره سم په ښکلو، مشخصو او فصيحو الفاظو سره څرګندوي.

څلورم داستاني نثر

په داستاني نثر کې خيالي يا واقعي پېښې د وخت او زمان په پام کې نيولو سره ترتيب او څرګندېږي. ساده داستاني نثر بيا پېښې او واقعې په کرونولوژيکي ډول سره يو په بل پسې راڅرګندوي.

هغه نثر چې بيا يوه طرحه يا خاکه ولري د هنري پرنسيپونو پربنسټ ليکل شوی وي، طرح لرونکی (داستاني) نثر بلل کېږي. د نثر هر ډول له يوه ټاکلي موخې سره اړه لري.

تشرېحي نثر د معلوماتو له زياتولو سره مرسته کوي. استدلالي نثر د يوه تېزس يا مفکورې داثبات يا د چا د نظر او فکر د بدلون او اړولو لپاره کارول کېږي. ستاينيز نثر د عاطفي او ښکلايزې څانګې د پارولو لپاره ليکل کېږي.

په لنډه توګه د نثرونو هر ډول ځانته خپله جلا ژبه او پرانسيپونه لري.

د بڼې يا شکل (فورم) له مخې د نثر ډولونه

د بڼې او فورم له مخې اوسني نثرونه په لومړي سر کې په دوو سترو برخو وېشل کېږي.

۱ــ ساده نثرونه. ۲ ــ هنري يا ادبي نثرونه .

په ساده نثرونو کې ټولې علمي، ادبي، سياسي او ژورناليستي ليکنې او د څېړنيز تحليلي او تشريحي آثارو څېړني راځي، چې په ساده او روانه ژبه د فکر او فطرت د څرګندولو او نورو ته د پوهې او معلوماتو د لېږدونې دېره ښه او اغېزمنه لاره ده .

ادبي او هنري نثرونه بيا خپل ډولونه او ځانګړنې لري، چې دلته زموږ د بحث په موضوع کې شامل نه دي.

**پايله**

د نثر او د ليکنو قوانينو باندې پوهېدل د هر با سواده او يوه شخص لپاره يوه اړينه او ضروري خبره ده، ځکه ټول ليکونه او ليکنې د ليکوالی هنر په لمن کې نغښتي دي، د دې لپاره چې يو ليکونکی خپل فکر، نظر او مفکوره په الفاظو کې په هره ښه چې وي نورو ته ولېږدوي، لازمه ده چې د ليکلو په لارو چارو او قوانينو باندې پوه وي، تر څو لوستونکی د هغې لوستنې ته جذب او د اصولو او معيارونو په پام کې نيولو په اساس مطلوبه ليکنه که (ادبي، علمي، تخليقي يا تحقيقي) وي لازمه لاسته راوړنه ولري او هغه ليکنه خپل حقيقي

ارزښت پیدا کړي.
دغه مقاله چې اوس بشپړه شوې او د وروستیو معتبرو لیکنو او آثارو څخه په کار اخیستنې سره ترتیب شوې، د پښتو ځانګې مبتدي لیکوالانو او معلمانو یوه مهمه ستونزه وه، چې د دغې مقالې په لوستنه او زده کړې سره به، په ښه، ښکاره (مهمو) او لنډو ټکو سره د هغوی ستونزې حل او د نثر دولنه وپېژني، په دغې لیکنه کې د سریزې برخېره، مبرمیت، موخه، ارزښت، اصلي متن، پایله او اخځلیکونه د اصولو سره سم په پام کې نیول شوي دي چې د لیکوالۍ له اصولو سره به برابره وي او خدای دې وکړي چې د دغې ځانګې او ادب مینه والو ته په یوه خدمت کې حساب شي.

**اخځلیکونه**

١ــ آریانا پښتو- پښتو سیند، (١٣٨٩.هــ.ش)، علوماکاډمي، د ژبو او ادبیاتو انستیتوت، کابل، آریانا خپرندویه مؤسسه
٢ــ خټک، فضل میر، ( ١٩٩٩.م)، فضلیات (پښتو ادبي اصطلاحات) ، پېښور ، حیات بک نشرات.
٣ـ رفیق، محمدرفیق، (١٣٨٧.هـ.ش)، ادبپوهنه(١)، کابل، د ښوونکو د روزنې لوی ریاست.
٤ــ عمید، حسن، (١٣٧٨هـ.ش) فرهنگ فارسي عمید ،ایران، انتشارات امیر کبیر.
٥ ــ هاشمي، سید محی الدین، (١٣٨١.هــ.ش)، ادبپوهنه، پېښور، د اریک ګرځنده کتابتون.
٦ـ هاشمي، سید محی الدین، (١٣٩٣.هـ.ش)، ادبپوهنې ځانګې، پېښور، میهن خپرندویه ټولنه.
٧ـ هاشمي، سید محی الدین،(١٣٩٣.هـ.ش)، د لیکوالۍ فن، پېښور، میرویس کتاب پلورنځی.
٨ ـ هاشمي، سید محی الدین ،(١٣٩٥.هـ.ش)، د لیکوالۍ هُنر، پېښور، میهن خپرندویه ټولنه.
٩ ــ هاشمي، سید محی الدین، (١٣٩٤.هـ.ش)،د نثري ادب دولونه ، کابل ، علومو اکاډمي.
١٠ ــ هاشمي، سید محی الدین، (١٣٩٦.هـ.ش)، ادبپوهنې ځانګې، کابل، شمشاد هاشمي مطبعه.

# تأثیرات سن بر یادگیری دانش آموزان
## در دوره‌های مختلف سنی

نویسنده: میرعتیق الله صدری

**چکیده**

سن یکی از عوامل مهم و تأثیرگذار بر فرآیند یادگیری است. در این مقاله ما به بررسی تأثیرات سن بر یادگیری در دوره‌های مختلف سن دانش‌آموزان می‌پردازیم و با مرور به تحقیقات انجام شده در این زمینهٔ، به تحلیل عوامل مرتبط با سن و تأثیرات آن بر توانایی‌های شناختی، حافظهٔ، توجه و تمرکز، انگیزه و علاقهٔ، فشارهای اجتماعی و تحصیلی، تفاوت‌های فردی، تأثیر محیط آموزشی و عملکرد تحصیلی پرداخته شده است. یافته‌های این مقاله نشان می‌دهند که سن می تواند هم به عنوان یک عامل تسهیل کننده و هم به عنوان یک عامل محدود کننده در فرآیند یادگیری عمل کند که شما با مطالعهٔ این مقاله خواهید آموخت.

**مقدمه**

یادگیری فرآیندی پیچیده است که تحت تأثیر عوامل مختلفی از جملهٔ محیط، ژنتیک، آموزش و سن قرار می گیرد. سن را می توان به عنوان یکی از متغییرهای مهم در مطالعات روانشناسی و علوم تربیتی، تأثیرات قابل توجهی بر توانایی های شناختی، انگیزه و عملکرد تحصیلی دانش‌آموزان دارد. این مقاله به بررسی تأثیرات سن بر یادگیری دانش‌آموزان در دوران‌های سنی مختلف می پردازد و به دنبال پاسخ به این سؤال است که (چگونه سن می تواند بر فرآیند یادگیری تأثیر بگذارد) با استفاده از منابع مختلف خواهیم پرداخت.

**تأثیر سن بر توانایی‌های شناختی**

توانایی‌های شناختی از جملهٔ حافظهٔ، توجه، حل مسئله و تفکر انتقادی، نقش کلیدی در فرآیند

یادگیری ایفا می‌کنند. تحقیقات علمی نشان می دهند که سن بر این توانایی‌ها تأثیر می گذارد. به عنوان مثال: کودکان در سنین پایینتر از انعطاف پذیری شناختی بیشتری بر محیط برخوردارند که به آنها امکان یادگیری سریعتر و تطبیق با محیط های جدید را می دهد. با این حال، با افزایش سن، توانایی‌های شناختی مانند حافظهٔ کاری و سرعت پردازش اطلاعات ممکن است کاهش یابد، بناً سن تأثیر قابل توجهی بر توانایی شناختی دارد و این تأثیر معمولاً در طول زندگی فرد تغییر می کند.

**حافظه**

حافظهٔ یکی از مهم‌ترین عوامل در یادگیری است. کودکان در سنین پایینتر معمولاً از حافظهٔ کوتاه‌مدت قویتری برخوردارند که به آنها امکان می‌دهد اطلاعات جدید را به سرعت جذب کنند. با این حال، با افزایش سن، ظرفیت حافظهٔ کاری ممکن است کاهش یابد، که می تواند بر توانایی یادگیری مطالب جدید تأثیر بگذارد.

**توجه و تمرکز**

توجه و تمرکز نیز از عوامل مهم در یادگیری هستند. کودکان کوچکتر ممکن است در تمرکز بر روی تکالیف طولانی مدت مشکل داشته باشند، در حالی که دانش‌آموزان بزرگتر، معمولاً توانایی بیشتری در حفظ توجه و تمرکز بر روی موضوعات پیچیده دارند.

**تأثیر سن بر انگیزه و علاقهٔ به یادگیری**

انگیزه یکی از عوامل کلیدی در موفقیت تحصیلی است. سن می تواند بر انگیزه دانش‌آموزان تأثیر بگذارد. کودکان کوچکتر معمولاً به دلیل کنجکاوی ذاتی و علاقهٔ به کشف دنیای اطراف، انگیزه بالایی برای یادگیری دارند. با این حال، با افزایش سن، انگیزه دانش‌آموزان ممکن است تحت تأثیر عوامل اجتماعی، فشارهای تحصیلی و انتظارات محیطی قرار گیرد.

**انگیزه درونی و بیرونی**

در سنین پایینتر، انگیزه درونی (علاقهٔ شخصی به یادگیری) معمولاً قویتر است. با افزایش سن، انگیزه بیرونی (مانند دریافت نمره خوب یا تأیید معلم) ممکن است نقش پررنگ‌تری پیدا کند. این تغییر در انگیزه می تواند بر کیفیت یادگیری تأثیر بگذارد.

**فشارهای اجتماعی و تحصیلی**

با افزایش سن، دانش‌آموزان ممکن است با فشارهای اجتماعی و تحصیلی بیشتری مواجه شوند که می تواند انگیزه آن‌ها را برای یادگیری کاهش دهد. این فشارها ممکن است منجر به اضطراب تحصیلی و کاهش عملکرد یادگیری شان شود.

**تفاوت‌های فردی**

تفاوتهای فردی در یادگیری نیز تحت تأثیر سن قرار می‌گیرند. تحقیقات نشان می‌دهد اینکه: برخی دانش‌آموزان ممکن است در سنین پایینتر توانایی‌های خاصی را توسعهٔ دهند، در حالی که برخی دیگر ممکن است در سنین بالاتر به این تواناییها دست یابند.

**تأثیر محیط آموزشی**

محیط آموزشی نیز می تواند تأثیر سن بر یادگیری را تعدیل کند. به‌عنوان مثال:

صنف‌هـای درسـی کـه بـه نیازهـای سـنی مختلـف دانش‌آمـوزان توجـه می‌کننـد، مـی تواننـد بـه بهبـود عملکـرد تحصیلـی کمـک کننـد.

### تأثیر سن بر عملکرد تحصیلی

عملکـرد تحصیلـی دانش‌آمـوزان نیـز تحـت تأثیـر سـن قـرار مـی گیـرد. تحقیقـات نشـان می‌دهنـد کـه دانش‌آمـوزان در سـنین مختلـف ممکـن اسـت در دروس مختلـف عملکـرد متفاوتـی داشـته باشـند. بـه عنـوان مثـال: دانش‌آمـوزان کوچکتـر ممکـن اسـت در دروسـی کـه نیـاز بـه خلاقیـت و تفکـر واگـرا (مختلـف) دارنـد، عملکـرد بهتـری داشـته باشـند، در حالـی کـه دانش‌آمـوزان بزرگتـر ممکـن اسـت در دروسـی کـه نیـاز بـه تحلیـل و تفکـر انتقـادی دارنـد، موفق‌تـر باشـند. مـا در ادامـه بـه بررسـی تاثیـرات یادگیـری در دوره‌هـای مختلـف خواهیـم پرداخـت:

۱. دوران کودکـی (۰ تـا ۱۲ سـال): در ایـن دوران کـودکان دارای رشـد سـریع شـناخت بـرای یادگیـری دارنـد، چـون کـه در ایـن دوره مغـز بـه سـرعت رشـد می‌کنـد و توانایی‌هـای شـناختی ماننـد: یادگیـری، حافظـهٔ، توجـه و حـل مسـئله بـه طـور چشـم‌گیری بهبـود می‌یابنـد بـه دلیـل ایـن کـه در ایـن دوره مغـز کـودکان و نوجوانـان بسـیار انعطـاف پذیـر اسـت و بـه راحتـی مـی توانـد اطلاعـات جدیـد را جـذب کنـد و مهارت‌هـای جدیـد بیامـوزد. انعطاف‌پذیـری ذهنـی بـالای کـودکان در ایـن سـن قـدرت یادگیـری فوق‌العاده‌یـی دارنـد، به‌ویـژه در آمـوزش زبـان مـادری. بهتریـن روش بـرای یادگیـری کـودکان در ایـن دوره از طریـق بـازی و فعالیت‌هـای عملـی بـرای شـان می‌باشـد . امـا در ایـن دوره کـودکان تمرکـز کوتـاه مـدت دارنـد و سـریع یـاد می‌گیرنـد امـا دامنـهٔ توجـه آن‌هـا کوتـاه اسـت و نیـاز بـه تنـوع در روش‌هـای آموزشـی دارنـد.

۲. دوران نوجوانـی (۱۳ تـا ۱۹ سـال): در ایـن دوره نوجوانـان در اوج عملکـرد شـناخت قـرار دارنـد ماننـد: حافظـهٔ کاری، سـرعت پـردازش اطلاعـات و اسـتدلال انتزاعـی (مطلـق) بـه اوج خـود می‌رسـند؛ چـون کـه ثبـات شـناختی در ایـن مرحلـه بیشـتر می‌باشـد و افـراد معمـولاً از ثبـات شـناختی بالایـی برخـوردار هسـتند و مـی تواننـد وظایـف پیچیـده را بـه خوبـی انجـام دهنـد. در ایـن دوره نوجوانـان دارای تفکـر انتقـادی و منطقی‌تـر و توانایـی تحلیـل مسـایل را بهتـر پیـدا می‌کننـد و تحـت تأثیـر احساسـات، انگیـزه و علاقـهٔ شـخصی قـرار گرفتـه و در فراینـد یادگیـری آن‌هـا نقـش اساسـی دارد؛ چـون کـه نوجوانـان در ایـن زمـان دارای حساسـیت بـه بازخوردهـا محیطـی در تحسـین و انتقـاد حسـاس هسـتند، بنابرایـن تشـویق مـی توانـد یادگیـری را در نوجوانـان در ایـن دوره تقویـت کنـد.

۳. جوانـی و اوایـل بزرگسـالی (۲۰ تـا ۳۵ سـال): در ایـن دوره جـوان در اوج کامـل شـدن حافـظ خویـش اسـت و دارای تمرکـز بیشـتر بـر اهـداف و یادگیـری هدف‌منـد اسـت ماننـد: افـراد در ایـن سـن معمـولاً یادگیـری را بـرای پیشـرفت شـغلی و شـخصی دنبـال می‌کننـد، چـون کـه بـه دلیلـی توانایـی یادگیـری مسـتقل در ایـن مرحلـه، افـراد مـی تواننـد خودشـان پروگرام‌ریـزی کننـد و منابـع یادگیـری مناسـب را پیـدا کننـد.

٤. دوران میـان سـالی (۳۶ تـا ۵۵ سـال): ایـن دوره یکـی از مهمتریـن دوره‌هـای زندگـی افـراد می‌باشـد کـه افـراد، دارای حافظـهٔ کامـل اسـت؛

اما در این دوره یادگیری به صورت کند به پیش رفته و سرعت یادگیری ممکن است کاهش یابد، اما تجربه و دانش قبلی کمک می‌کند و تمرکز بر کاربرد عملی دانش در یادگیری در این سن بیشتر به هدف‌های عملی و مهارتی مرتبط است.

۵. دوران سال‌مندی (۵۶ سال به بالا): در این دوره افراد در حال کاهش حافظهٔ کوتاه‌مدت می‌باشند و یادگیری مفاهیم جدید ممکن است سخت‌تر شود، اما تکرار و تمرین مؤثر است. یادگیری اجتماعی و تجربی در این سن برای سال‌مندان از طریق بحث و گفت‌وگو بهتر می‌باشد. در کل، یادگیری در هر سنی ممکن است، اما روش‌های یادگیری باید با توجه به ویژگی‌های سنی تنظیم شوند تا بیشترین بهره‌وری (استفاده عظیم) حاصل شود.

## نتیجه‌گیری

در نتیجهٔ می توان گفت که سن می تواند هم به‌عنوان یک عامل تسهیل کننده و هم به عنوان یک عامل محدودکننده در فرآیند یادگیری عمل کند. درک این تأثیرات می تواند به بهبود روش‌های آموزشی و افزایش موفقیت تحصیلی دانش‌آموزان کمک کند. سن به عنوان یکی از عوامل مهم در فرآیند یادگیری، تأثیرات قابل توجهی بر توانایی‌های شناختی، انگیزه و عملکرد تحصیلی دانش‌آموزان دارد.

درک این تأثیرات می تواند به معلمان و مربیان کمک کند تا روش‌های آموزشی مناسب‌تری را برای دانش‌آموزان در سنین مختلف طراحی کنند. با توجه به تفاوت‌های فردی و تأثیرات محیطی، لازم است که پروگرام‌های آموزشی انعطاف‌پذیر و متناسب با نیازهای سنی دانش‌آموزان طراحی شوند تا نتیجهٔ مطلوب از فرایند (جریان) یادگیری گرفت.

## منابع و مآخذ

۱- Smith, J. (۲۰۲۰). "The Impact of Age on Cognitive Abilities in Children". Journal of Educational Psychology.
۲- Brown, A. (۲۰۱۹). "Motivation and Learning: Age-Related Differences". Educational Research Review.
۳- Johnson, L. (۲۰۱۸). "Age and Academic Performance: A Longitudinal Study". Journal of School Psychology.

# په ښوونیز نظام کې د ساینسي لابراتورونو د شتون ارزښت

سمیع الله شاهد



**سریزه**
ساینس او ټیکنالوژي د هر هېواد د پرمختګ اساس دی. په ځانګړي توګه، د افغانستان په ښوونځیو کې د ساینسي لابراتورونو شتون نه یوازې د عملي تدریس لپاره مهم دی، بلکې د زده کوونکو د تفکر، ستونزو د حللارو موندلو او نوښتي ورتیاوو د ودې لپاره هم اړین دی. دا مقاله د ساینسي لابراتورونو ارزښت او هغه ګټې بیانوي چې د زده کوونکو، ښوونکو او ټولنې لپاره یې لري.

## ۱. عملي زده کړه

ساینسي لابراتورونه د نظري او عملي زده کړو ترمنځ پُل جوړوي. زده‌کونکي کولای شي د ساینسي علومو په برخه کې عملي تجربې ترسره کړي. دا کار نه یوازې د زده کړې بهیر خوندور کوي بلکې زده کونکو ته د علمي اصولو او قوانینو په اړه بنسټیزه پوهه ورکوي. عملي زده‌کړه د زده‌کړې په بهیر کې د زده‌کوونکو لپاره یوه ارزښتناکه کار

دی. د افغانستان په ښوونځیو کې د ساینسي لابراتوارونو شتون د دې بهیر د ودې لپاره مهم دي. د دې لابراتوارونو له لارې، زده‌کوونکي د نظریو په عملي کولو سره، د علمي او تخنیکي مهارتونو په برخه کې د پرمختګ فرصتونه لري چې دا د هغوی د مسلکي او ټولنیز ژوند لپاره ډېر مهم دي.

### ۲. تخنیکي مهارتونه

تخنیکي مهارتونه د زده کړو په بهیر کې د زده‌کونکو لپاره یوه بنسټیزه اړتیا ده. د ساینسي لابراتورونو موجودیت په افغانستان کې د دې مهارتونو د ترلاسه کولو لپاره فرصتونه برابروي. تخنیکي مهارتونه د هغو ځانګړو وړتیاوو او پوهې مجموعې ته ویل کېږي چې د ځانګړو فعالیتونو دندې یا مسلک په ترسره کولو کې مرسته کوي. په نننۍ دور کې دا مهارتونه مسلکي پرمختګ، د معلوماتو تحلیل، د تحقیقي مهارتونو، نوښت، د بازار اړتیاوو او حل لارو موندلو ته زمینهٔ برابروي.

### ۳. انتقادي فکر

انتقادي فکر د زده‌کړې یوه مهم مهارت دی چې زده‌کوونکو ته اجازه ورکوي د معلوماتو تحلیل، ارزونه او حل لارې ومومي. د ساینسي تجربو له لارې، زده‌کوونکي کولای شي خپل انتقادي فکر ته وده ورکړي، ځکه چې دا بهیر دوی ته د علمي نظریاتو په ارزولو، تجربو ترسره کولو او پایلو ته د رسېدو زمینهٔ برابروي.

### ۴. نوښت

ساینسي لابراتوارونه د زده‌کوونکو د نوښت د ودې لپاره یو نمونه‌یي یا بېلګیزه چاپېریال برابروي. د عملي تجربو، خپلواک فکر او د ستونزو د حل بهیر له لارې، زده‌کوونکي کولای شي د خپلو تخلیقي او نوښتګرانه وړتیاوو په اړه پوهه ترلاسه کړي. د دې مهارتونو وده نه یوازې د علمي زده‌کړو لپاره مهمه ده، بلکې د راتلونکي د پیاوړي او نوښتګر نسل لپاره هم اړینه ده.

### ۵- ټولنیز او اقتصادي اغېز

د ساینسي لابراتورونو شتون د زده‌کوونکو په ټولنیز او اقتصادي پرمختګ کې مهمه ونډه لري. د خپل فرهنګ پېژندنه، نوښت او مسلکي چمتوالی د ټولنیز او اقتصادي ودې لامل کېږي. د دې لابراتورونو څخه ګټه اخیستل د زده کوونکو د شخصیت او مسلکي پرمختګ لپاره بنسټیز فرصتونه برابروي.

### پایله

د ساینسي لابراتورونو شتون په افغانستان کې د زده کړې پروسې په اصلاح او پرمختګ کې مهمه ونډه لري. دا لابراتورونه نه یوازې د زده‌کونکو علمي او تخنیکي مهارتونو ته وده ورکوي؛ بلکې د ټولنې لپاره هم مثبت بدلونونه رامنځته کوي. په دې توګه، د دې لابراتورونو جوړول او ساتل د افغانستان د تعلیمي سیستم د پرمختګ لپاره یوه اړتیا ده. امارتي او غیر امارتي اداري باید د دې لابراتورونو د پراختیا لپاره جدي هلې ځلې وکړي چې د هېواد د راتلونکي نسل لپاره غوره فرصتونه برابر شي.

# بررسی اصول و کاربردهای شیمی سبز در کاهش آلودگی‌های صنعتی

مؤلف: صفیه احمدی

**چکیده**

شیمی سبز به عنوان رویکردی نوین در علم کیمیا، با هدف کاهش آلودگی‌های صنعتی و بهبود فرآیندهای تولید، در حال گسترش است. این مقاله به بررسی اصول شیمی سبز و کاربردهای آن در صنایع مختلف برای کاهش ضایعات، مصرف انرژی، و مواد کیمیایی سمی پرداخته است. اصول اصلی شیمی سبز شامل پیشگیری از تولید ضایعات، استفاده از منابع تجدیدپذیر و طراحی فرآیندهای کم‌اثر بر محیط زیست است. کاربردهای این اصول در صنایع پتروشیمی، داروسازی، تولید پلاستیک و مواد کیمیایی به ویژه در زمینهٔ کاهش آلودگی‌های زیست‌محیطی مورد تحلیل قرار گرفته است. علاوه بر این، استفاده از کتلست‌ها، کاهش محلل‌های سمی و طراحی فرآیندهای سبز به عنوان راهکارهای مؤثر در کاهش آلودگی‌ها بررسی شده است. نتیجه‌گیری مقاله نشان می‌دهد که شیمی سبز نه تنها به کاهش اثرات منفی زیست‌محیطی کمک می‌کند بلکه می تواند به بهینه‌سازی هزینه‌ها و افزایش بهره‌وری در صنایع مختلف منجر شود. همچنین، آینده شیمی سبز به عنوان یک ابزار حیاتی در دستیابی به توسعهٔ پایدار و حفاظت از محیط زیست، بسیار امیدوارکننده است.

**کلید واژه ها:** اصول و کاربردهای شیمی سبز، و کاهش آلودگی‌های صنعتی

**مقدمه**

آلودگی‌های صنعتی یکی از بزرگ‌ترین چالش‌های زیست‌محیطی و بهداشتی جهان امروز هستند که نتیجهٔ فعالیت‌های انسانی در صنایع مختلف نظیر پتروشیمی، داروسازی، تولید مواد غذایی و غیره می‌باشند. بسیاری از این صنایع از مواد

کیمیایی و فرآیندهای پرمصرف و پرهزینه استفاده می‌کنند که اثرات منفی زیادی بر محیط زیست و سلامت انسان‌ها دارند. در همین راستا، شیمی سبز به عنوان یک رویکرد نوین به منظور کاهش این اثرات منفی مطرح شده است. شیمی سبز نه تنها به کاهش آلوده‌کننده‌ها کمک می‌کند بلکه به طراحی فرآیندهای صنعتی به گونه‌یی می‌پردازد که مصرف انرژی و منابع طبیعی به حداقل برسد.

این مقاله به بررسی اصول شیمی سبز و کاربردهای آن در کاهش آلودگی‌های صنعتی می‌پردازد و تلاش می‌کند تا نقش آن را در تحقق توسعهٔ پایدار و حفاظت از محیط زیست برجسته نماید.

## ۱. شیمی سبز: مفاهیم و اصول

### تعریف شیمی سبز

شیمی سبز به مجموعه‌یی از اصول و روش‌های طراحی واکنش‌ها و فرآیندهای کیمیایی اطلاق میشود که به هدف کاهش یا حذف استفاده از مواد کیمیایی خطرناک و کاهش تولید ضایعات سمی و غیر ضروری توسعهٔ یافته‌اند. این رویکرد در تلاش است تا فرآیندهای کیمیایی به گونه‌یی طراحی شوند که کمترین اثرات منفی را بر محیط زیست و سلامت انسان‌ها داشته باشند (Manahan, ۲۰۰۶) .

### اصول شیمی سبز

شیمی سبز ۱۲ اصل کلیدی دارد که توسط پل آنستراند، کیمیادان مشهور، معرفی شده‌اند. این اصول به شرح زیر هستند:

۱. پیشگیری از تولید ضایعات: تلاش برای جلوگیری از تولید ضایعات به جای مدیریت آن‌ها بعد از تولید.

۲. طراحی محصولات و فرآیندهای کیمیایی برای کمترین آسیب به محیط زیست: کاهش یا حذف مواد کیمیایی خطرناک در فرآیندهای تولید.

۳. طراحی فرآیندها برای مصرف کمتر انرژی: کاهش مصرف انرژی در فرآیندهای کیمیایی با استفاده از روش‌های بهینه.

٤. استفاده از منابع تجدیدپذیر: بهره‌برداری از منابع طبیعی مانند گیاهان به جای استفاده از مواد غیر قابل تجدید.

۵. کمترین استفاده از مواد کیمیایی خطرناک: استفاده از مواد اولیهٔ غیر سمی به جای مواد خطرناک.

٦. طراحی فرآیندها به گونه‌یی که محصولات جانبی بی‌ضرر تولید شوند.

۷. استفاده بهینه از کتلست‌ها: به جای استفاده از واکنش‌دهنده‌های استوکیومتریک، از کتلست‌ها برای بهبود فرآیندها بهره برده میشود.

۸. طراحی فرآیندهای کیمیایی برای کاهش اثرات منفی بر محیط زیست.

۹. رصد دقیق فرآیندها برای جلوگیری از تولید مواد مضر.

۱۰. بازیافت و استفاده مجدد از مواد کیمیایی.

۱۱. طراحی فرآیندها به گونه‌یی که مصرف مواد کیمیایی خطرناک کاهش یابد.

۱۲. توسعهٔ روش‌های کیمیایی جدید برای بهبود ایمنی و کاهش خطرات . (Ramesh, ۲۰۲۱)

## ۲. کاربردهای شیمی سبز در کاهش آلودگی‌های صنعتی

### ۱. استفاده از کتلست‌ها

یکی از بزرگ‌ترین چالش‌ها در صنایع کیمیایی، مصرف بالای انرژی و تولید ضایعات زیاد است. استفاده از کتلست‌ها می تواند میزان انرژی مصرفی را به حداقل رسانده و بازده فرآیندهای کیمیایی را بهبود دهد. کتلست‌ها موجب میشوند که واکنش‌ها با انرژی کمتری انجام شوند و همچنین محصولات جانبی مضر کمتری تولید شود. این فرآیند به ویژه در صنایع کیمیایی و پتروشیمی برای کاهش آلودگی‌های ناشی از مواد زائد اهمیت زیادی دارد.

### ۲. کاهش استفاده از محلل‌های سمی

در بسیاری از فرآیندهای کیمیایی، محلل‌های عضوی به‌طور گسترده‌یی استفاده میشوند که بسیاری از آن‌ها سمی و مضر برای محیط زیست و سلامت انسان‌ها هستند. شیمی سبز به دنبال جایگزین‌های بی‌خطر برای این محلل‌ها است. استفاده از محلل‌های سبز یا محلل‌های آبی به‌جای محلل‌های سمی، می تواند به کاهش آلودگی‌ها و کاهش اثرات منفی بر محیط زیست کمک کند.

### ۳. تولید مواد کیمیایی پایدار

شیمی سبز به طراحی فرآیندهای تولید مواد کیمیایی به‌گونه‌یی می‌پردازد که کمترین ضایعات و آلودگی‌های محیطی را به دنبال داشته باشد. برای مثال، تولید مواد کیمیایی با استفاده از فرآیندهای سنتیزی سبز که منابع تجدیدپذیر را به کار می‌گیرند، نه تنها موجب کاهش آلودگی‌های صنعتی می شود، بلکه به کاهش وابستگی به منابع غیر تجدیدپذیر نیز کمک می‌کنند.

### ٤. کاهش تولید گازهای گلخانه یی

تولید بسیاری از مواد کیمیایی صنعتی به‌ویژه سوخت‌های فسیلی منجر به تولید گازهای گلخانه‌یی و آلودگی هوا میشود. شیمی سبز با تمرکز بر استفاده از منابع انرژی تجدیدپذیر و کاهش مصرف سوخت‌های فسیلی، می تواند به کاهش انتشار این گازها کمک کند. به‌عنوان مثال، استفاده از بیوپلاستیک‌ها به‌جای پلاستیک‌های نفتی، می تواند تولید گازهای گلخانه‌یی را کاهش دهد.

### ٥. فرآیندهای سبز در تولید دارو

در صنعت داروسازی، تولید داروها به طور معمول با استفاده از مواد کیمیایی سمی و پرهزینه همراه است. شیمی سبز با معرفی فرآیندهای سبز و استفاده از مواد اولیهٔ غیر سمی، می تواند به کاهش آلودگی‌های ناشی از این صنعت

کمک کند. این روش‌ها می توانند نه تنها اثرات منفی بر محیط زیست را کاهش دهند؛ بلکه هزینه‌های تولید را نیز کاهش دهند.

**۶. طراحی مواد بسته‌بندی سبز**

در صنعت تولید مواد بسته‌بندی، پلاستیک‌ها و مواد غیرقابل تجدید منابع اصلی آلودگی هستند. شیمی سبز با طراحی مواد بسته‌بندی از منابع طبیعی و تجدیدپذیر می تواند به کاهش آلودگی های پلاستیکی کمک کند. استفاده از پلاستیک‌های زیستی که قابل بازیافت و تجزیه هستند، نمونه یی از کاربردهای شیمی سبز در این زمینهٔ است.

**۳. چالش‌ها و آینده شیمی سبز**

با وجود دستاوردهای قابل توجه شیمی سبز، هنوز چالش‌هایی در مسیر توسعهٔ و گسترش آن وجود دارد. یکی از این چالش‌ها، نیاز به سرمایه‌گذاری در تحقیق و توسعهٔ فناوری‌های نوین است. علاوه بر این، تغییر نگرش صنایع به پذیرش این روش‌ها و پذیرش استانداردهای جهانی برای تولید سبز نیز از اهمیت زیادی برخوردار است.

با این حال، آینده شیمی سبز بسیار روشن است. بهبود مستمر فناوری‌های شیمی سبز، کاهش هزینه‌های تولید و افزایش آگاهی عمومی می تواند شیمی سبز را به رویکردی اصلی در صنایع مختلف تبدیل کند. همچنین، استفاده از شیمی سبز در صنایع مختلف می تواند به تحقق اهداف توسعهٔ پایدار کمک کند (گام کلاس، ۲۰۲۴).

**نتیجه‌گیری**

شیمی سبز به عنوان یک رویکرد نوین در علم شیمی، به‌طور مؤثر می تواند در کاهش آلودگی های صنعتی نقش مهمی ایفا کند. با استفاده از اصول و فرآیندهای شیمی سبز می توان به کاهش مصرف انرژی، کاهش ضایعات و آلودگی‌ها، و استفاده بهینه از منابع تجدیدپذیر کمک کرد. در نهایت، شیمی سبز می تواند به تحقق توسعهٔ پایدار و حفظ سلامت محیط زیست و انسان‌ها کمک کند.

منابع

- گام کلاس، کاربردهای شیمی سبز در صنایع مختلف (۲۰۲۴).
- .green chemistry (۲۰۲۱) ,Dr. A. R. Ramesh
- .Green chemistry (۲۰۰۶) ,Stanley E. Manahan

# د ارزونې مفهوم

لیکوونکی: عبدالصادق رښتین

**د پیل خبرې**

ارزونه د هغو اصلاحاتو له ډلې څخه ده چې په ورځني ژوندانه یا محاوره کې ترې ګټه اخیستل کېږي. ځینې یې بیا د یوه شخص، یوې پېښې یا د یوه شي په اړه د قضاوت کولو په مفهوم سره کاروي. ځینې بیا ارزونه د تفتیش او څېړنې په مفهوم سره او همدارنګه ځینې نور یې د اندازه کولو او ازموینې په مفهوم سره کاروي.

د ارزونې کلمه د اندازه کولو او ازموینې سره مترادفه کارېږي، خو ازموینه او اندازه کول مترادفه کلمه نه ده او د یوه او بل په ځای باید ونه کارول شي. په ښوونه او روزنه کې ارزونه په لاندې ډول تعریف شوې ده :

**د ارزونې تعریف** : ارزونه یوه منظمه طریقه ده چې ښوونیزو او روزنیزو موخو ته د زده کوونکو د رسېدو درجه ټاکي. دا تعریف دوه مهم او عمده اړخونه لري :

۱ـ ارزونه تل دا ضرور ګڼي چې ښوونیزې موخې باید مخکې له مخکې مشخصې او وټاکل شي. دا ښکاره خبره ده که چېرته ښوونیزې موخې له وړاندې نه وي ټاکل شوې نو دا ناممکنه ده چې د زده کوونکو د اندازې او پرمختګ د کچې په اړه قضاوت وکړو.

۲ـ ارزونه یوه منظمه طریقه ده چې د زده کوونکو سطحې او غیر کنټرول شوې مشاهدې رانغاړي.

پورته دوه عمده او مهم اړخونه چې یو یې اندازه کول او بل یې ارزونه ده. د اندازه کولو په نسبت ارزونه یوه جامع اصطلاح ده، او اندازه کول یې یو کوچنی جزء ګڼل کېږي. ځکه په ارزونه کې د زده کوونکو له کمي او کیفي سلوک سربېره د زده کوونکو د پرمختګ په اړه د ښوونکو د غیر رسمي او نظري قضاوت تعریف او تشریح هم شامل دي.

بل اندازه کول د زده کوونکو سلوک په مقداري ډول تعریف او تشریح کوي. اندازه کول د هماغه سلوک د ارزښتونو په اړه د قضاوت تشریح نه

رانغـاړي.

### د اندازه کولو او ارزونې ترمنځ اړيکه

ارزونـه : د زده کوونکـو د کمـي سـلوک ( انـدازه کولـو ) تشـريح او د ارزښـتونو پـه اړه قضـاوت دي.

انـدازه کـول : د زده کوونکـو د کيفـي سـلوک تشـريح او د ارزښـتونو پـه اړه قضـاوت دي.

لـه پورتـه تحليـل څخـه داسـې ښـکاري چـې ارزونـه پـه انـدازه کولـو ولاړه ده، نـو کلـه چـې ارزونـه پـه انـدازه کولـو بانـدې ولاړه وي، پـه دې حالـت کـې ارزونـه يوازې د زده کوونکـو د سـلوک کميت نـه دی، بلکـې لـه دې څخـه پورتـه مسـايل هـم څېـړي.

پـه ارزونـه کـې اساسـي ټينـګار پـه دې بانـدې کـوم چـې زده کوونکـي تـر کومـه حـده ښـوونيزو موخـو تـه رسـېدلي دي.

### د ارزونې او اندازه کولو تر منځ توپير

ځينـې وختونـه د ارزونـې او انـدازه کولـو ترمنـځ د اختـلاف پـه ګوتـه کـول سـتونزمن کار دی.دا دوې اصطـلاح ګانـې کـه لـه يـوې خـوا يـو لـه بـل سـره تړلـې دي خـو لـه بلـې خـوا يـو لـه بـل سـره توپيـر هـم لـري.

- د انـدازه کولـو پـه نسـبت ارزونـه يـوه جامـع اصطـلاح ده او انـدازه کـول د ارزونـې يـو کوچنـی مهـم جـز دی.
- انـدازه کـول د ارزونـې لپـاره مناسـب اطلاعـات چمتـو کـوي.
- لـه ارزونـې پرتـه انـدازه کـول هيـڅ معنـی نـه لـري.
- ارزونه په اندازه کولو ولاړه ده.

### د اندازه کولو ځانګړتياوې

روزنيـزه انـدازه ګيـري هڅـه کـوي چـې د امکان تـر حـده د اعددونـو پـه واسـطه د زده کوونکـو موقـف وټاکـي. د انـدازه کولـو د وسـايلو کمـي پايلـه ثابتـه او معتبـره وي او بدلـون نـه مومـي. د توصيفـي کلماتـو پـه نسـبت د اعـدادو پـه واسـطه د راپـور ور کولـو ارزښـت او غـوره والـی پـه دې کـې دی، چـې ښـوونکی لـه توصيفـي کلماتـو څخـه بېـلا بېـل تعبيرونـه اخلـي خـو اعـداد ډېـر لـږ مبهـم وي.

۱ـ اعتبـار : دا ځانګړتيـا ښـيي چـې انـدازه کـول د هماغـه مفهـوم پـه حقيقـي ډول انعـکاس کـوي چـې ارزول کېـږي.

۲ـ بـاور او ورتيـا : دا ځانګرتيـا ښـيي چـې انـدازه کـول څومـره ثابـت او پـه هـر وخـت کـې ورتـه نتيجـه ورکـوي.

۳ـ معيـاري تـوب : انـدازه کـول بايـد د منل شـويو معيارونـو سـره سـمون ولـري او د بېلابېلـو حالاتـو او اشـخاصو لپاره پلـې شـي.

۴ـ حساسـيت : انـدازه کـول بايـد کافـي حسـاس وي چـې کوچنـي توپيرونـه هـم ولټـوی.

۵ ـ هـدف : انـدازه کـول بايـد د ارزونکـي لـه مداخلـې پرتـه ثابتـې پايلـې ولـری.

۶ـ عملـي تـوب : انـدازه کـول بايـد آسـانه، د منابعـو لـه اړخـه اقتصـادي او د پلـي کېـدو وړ وي.

يادونـه : پورتـه ځانګړتيـاوې د بـاوري او مؤثـرې ارزونـې لپـاره حياتـي ارزښـت لـري ځکـه چـې د

اندازه کولو کېفيت او د ارزونې د پايلو اعتبار او پلي کېدل تضمينوي.

**د ارزونې د مفهوم اړتيا**

ارزونه د ښوونې او تدريس يو له خورا مهمو او اساسي ارکانو څخه ده، چې يو ښوونکي د ارزونې په واسطه د خپل ځان او زده کوونکو د برياليتوب او نه برياليتوب کچه معلوموي چې تر کومه حده ښوونيزو موخو ته رسيدلي يو. ارزونه د زده کوونکو او محصلينو په عملي پوهه زيات ټينګار کوي او محصلين د ارزونې طريقو، ډولونو، د ښوونيزو موخو له طرحه کولو، د ازموينو له ډولونو، د پوښتنو له جوړولو او قاعدو، د نمرو ورکولو له څرنګوالي او په ټوليزه توګه د ازموينې اخيستلو او ارزونې له پوهې سره آشنا کوي.

**د ارزونې ځانګړتياوې**

۱ ـ ارزونه بايد د يوه خاص هدف لپاره تر سره شي : لکه د پرمختګ معلومول، د ستونزو حل کول او يا د راتلونکو پاليسيو د لار ښوونې لپاره.

۲ ـ ارزونه بايد د مشخصو مرحلو له لارې تر سره شي : لکه د معلوماتو د را ټولولو لپاره، د يوې موضوع د تحليل او پايلو ته د رسېدو لپاره.

۳ ـ ارزونه بايد د حقيقي شواهدو پر بنسټ ولاړه وي، نه د شخصي نظرونو پر اساس.

۴ ـ ارزونه بايد ټاکلی ارزښت او کېفيت ولري، ځکه د ارزونې اساسي هدف دا دی چې معلومه کړي يو شی څومره مؤثر، اغيزناک او کېفيت لرونکی دی. او څومره له موږ سره د ستونزو په حل کې مرسته کوي.

۵ ـ ارزونه بايد پايله درلودونکې وي : د ارزونې په واسطه موږ معلوملی شو چې ټاکلی هدف تر لاسه شوی دی او که نه. که هدف نه وي تر لاسه شوی نو نورو اصلاحاتو ته ضرورت دی چې بايد را وستل شي.

**د ارزونې ډولونه**

د هدف له مخې ارزونه په درې ډوله ده :

۱ ـ تشخيصي ارزونه : دا ارزونه د ستونزو يا اړتياوو د پېژندلو لپاره کارېږي او دا ارزونه له ښوونيز بهير څخه وړاندې تر سره کېږي.

۲ ـ تکويني ارزونه : د ښوونيز بهير په منځ کې تر سره کېږي چې معلومه کړي پرمختګ څنګه روان دی، که اړتيا وي سمون پکې را وستی شو.

۳ ـ مجموعي يا نهايي ارزونه : د ښوونيز بهير په پای کې تر سره کېږي چې د پايلو، لاسته راوړنو او مؤثريت ارزونه وشي.

**د طريقې له مخې د ارزونې ډولونه**

۱ ـ کميتي ارزونه : دا ارزونه د عدد يا شمېرو پر بنسټ تر سره کېږي لکه ازموينې، احصايوي تحليلونه او سروې ګانې.

۲ ـ کېفيتي ارزونه : د کېفيت، تجربو يا غير عددي معلوماتو پر اساس تر سره کېږي، لکه مرکې، مشاهدې يا اسنادو ته کتنه.

۳ ـ ګډه ارزونه : د کميتي او کېفيتي ارزونې او ميتودونو يو ځای کارول چې پراخ او کره

معلومات تر لاسه شي.

**په عمومي ډول ارزونه په دوه ډوله ده**

۱ - کُلي ارزونه: د دې ډول ارزونې په واسطه د زده کوونکو، ښوونکو، ښوونيز نصاب او په ځانګړي ډول وروسته له دې چې زده کړه تر سره شوه د تدريس او زده کړې د ګټورتوب په اړه قضاوت کوي. دا قضاوت په زده کوونکو، ښوونکو او ښوونيز نصاب په چمتو کوونکو کې شديد اضطراب او دفاعي حالت را منځته کوي.

۲ ـ شکلي ارزونه: د شکلي ارزونې اساسي او بنسټيزه موخه په يوه خاص مضمون باندې د يوه زده کوونکي د تسلُط د درجې ښودل او يا هم د شخصي دندې تاکل دي.

**لاسته راوړنې**

ارزونه د موخو په تحليل کې مرسته کوي، د را تلونکي لپاره په تصميم نيولو لاره هواروي، د ښوونيز کيفيت په لاسته را وړلو او ښه والي کې مرسته کوي، ښوونيز مؤثريت په لاسته راوړلو کې مرسته کوي، د ستونزو او مشکلاتو په لاسته راوړلو کې مرسته کوي، د نوښتونو او فرصتونو په لاسته را وړلو کې مرسته کوي.

**پايله:**

د ارزونې مفهوم د يوه ځانګړي فعاليت پايلې، ارزښت، مؤثريت او کيفيت معلوملو ته اشاره کوي موخه يې د پياوړتياوو او کمزوريو پيژندل او د راتلوونکي پرمختګ لپاره لارښوونه کوي همدا شان ارزونه د زده کړه د سمون او نوښت وسيله هم ده ارزونه يوې منظمي او سيستماتيکي پروسې ته ويل کېږي چې د يو فعاليت، پروژې، پروګرام، مؤثريت، پايښت او اغېز تحليل او ارزوي دا بهير معلوماتو را ټولولو، تحليل او تفسير له لارې تر سره کېږي چې د پرېکړو لپاره شواهد چمتو کړي د اصلاح او پرمختګ فرصتونه معلوم کړي، ارزونه نه يوازې د حساب ورکولو او روڼتيا بهيرده بلکې د زده کړې اصلاح او د را تلونکي لپاره د غوره پاليسيو جوړولو مهم ګام ګڼل کېږي.

**ماخذونه:**

۱ ـ روف، عطاءالله، ۱۳۹۵ ـ ۱۳۹۶ هـ ش روزنيزه ارزونه، کال ، هلمند چاپ ځای، د لوړو زده کړو وزارت.

۲ ـ تره کی، عبدالمجيد، تدريس ميتود، ۱۳۸۹ هـ ش کال، ميهن خپرندويه ټولنه.

۳ ـ رزاق زوی، عبدالعلي، څېړنه، ۱۳۹۹هـ ش کال، هلمند چاپ ځای.

۴ ـ علمي سايت، اهميت تعليم و تربيه.

۵ - ناصري، محمد ناصر، عمومي روانشناسي، ۱۳۸۷ هـ ش کال،خاور خپرندويه ټولنه.

انصـاري، ميـرزا خـان. د ميـرزا خـان انصـاري (ديوان‌الحقيقـت۱۱۲۳س) د هنـد د حيدرآبـاد دآصفيـه کتابتـون ۱۸۳۷مـه ګڼـه، ۱۳۲ پاڼـې.

انصــاري، ميــرزا خــان. د ميــرزا خــان انصــاري ديــوان ۱۱۸۸س، د ملــي آرشــيف ۶۶/ ۱۵ مــه ګڼــه قلمــي نســخه۱۳۸ مخــه.

انصــاري، ميــرزا خــان. د ميــرزا خــان انصــاري ديــوان، پرويــز مهجــور خوېشــکی. پښــتو اکېډمــي پېښــور يونيورسـټي، خطـاط محمدرسـول، جـدون پرنټنـګ پرېـس: پېښـور ۲۰۰۴ز، ۳۲۲مخـه.

انصـاري، ميـرزا خـان. د ميـرزا خـان انصاري‌ديـوان، سـريزه دوسـت. پښـتو ټولنـه، دولتـي مطبعـه: کابـل۱۳۵۴ل، ۲۶۲مخه.

انصـاري، ميـرزا خـان. د ميـرزا خـان ديـوان، سـريزه او وييپانګـه، مطيع‌اللـه روهيـال، علامـه رشـاد خپرندويه ټولنـه: کندهـار، ۱۴۰۳ل، ۲۶۰ مخـه.

انصـاري، ميـرزا خـان. د ميرزاخـان انصـاري ديـوان۱۰۸۳س، د افغانسـتان د علومـو اکاډمـی د کتابتـون ۱۸۴ګڼه قلمـي نسـخه.

هېوادمـل، زلمـی. د واصـل روښـاني ديوان(يـو کلنـه علمـي پـروژه)، د افغانسـتان د علومـو اکاډمـي، د ژبـو او ادبياتـو مرکز(پښـتو ټولنـه) ۱۳۶۵ل، ۲۰ مـخ.

غـروال، محمدعارف. د رحمان بابا ديوان، پښـتو ټولنـه، دولتي مطبعه، د ۱۳۵۶ ل، ۱۹مخ.

لوانی، دولت. د دولت لوانی ديوان، د عبدالشـكور رشـاد سـريزه، پښـتو ټولنه، دولتي مطبعه: كابل ۱۳۵۳ل.

مشـوانی، عبدالقيـوم. د خوشـحال خـان خټـک كليـات، دانـش خپرندويـه ټولنـه، دويـم چـاپ، ۱۳۸۷ الـف پټـی ۱مـخ.

انصاري، ميرزا خان(ديوان ميرزاهد افغاني محشـی) اسـلاميه مطبعه، لاهور، ۱۳۳۴س، ۱۷۲مخه.

انصـاري، ميـرزا خـان. د ميـرزا خـان انصـاري (ديوان‌الحقيقـت۱۱۲۳س) د هنـد د حيدرآبـاد دآصفيـه كتابتـون ۱۸۳۷مـه ګڼـه، ۱۳۲ پاڼـې.

انصـاري، ميـرزا خـان. د ميـرزا خـان انصـاري ديـوان ۱۱۸۸س، د ملـي آرشـيف ۶۶/ ۱۵ مـه ګڼـه قلمـي نسـخه۱۳۸ مخـه.

انصـاري، ميـرزا خـان. د ميـرزا خـان انصـاري ديـوان، پروېـز مهجـور خوېشـكی. پښـتو اكېډمـي پېښـور يونيورسـټي، خطـاط محمدرسـول، جـدون پرنټنـګ پرېـس: پېښـور ۲۰۰۴ز، ۳۲۲مخـه.

انصـاري، ميـرزا خـان. د ميـرزا خـان انصاري‌ديـوان، سـريزه دوسـت. پښـتو ټولنـه، دولتـي مطبعـه: كابـل۱۳۵۴ل، ۲۶۲مخه.

انصـاري، ميـرزا خـان. د ميـرزا خـان ديـوان، سـريزه او وييپانګـه، مطيع‌اللـه روهيـال، علامـه رشـاد خپرندويـه ټولنـه: كندهـار، ۱۴۰۳ل، ۲۶۰ مخـه.

انصـاري، ميـرزا خـان. د ميرزاخـان انصـاري ديـوان۱۰۸۳س، د افغانسـتان د علومـو اكاډمـی د كتابتـون ۱۸۴ګڼـه قلمـي نسـخه.

هېوادمـل، زلمـی. د واصـل روښـاني ديوان(يـو كلنـه علمـي پـروژه)، د افغانسـتان د علومـو اكاډمـي، د ژبـو او ادبياتـو مركز(پښـتو ټولنـه) ۱۳۶۵ل، ۲۰ مـخ.

غـروال، محمدعارف. د رحمان بابا ديوان، پښـتو ټولنـه، دولتي مطبعه، د ۱۳۵۶ ل، ۱۹مخ.

لوانی، دولت. د دولت لوانی ديوان، د عبدالشـكور رشـاد سـريزه، پښـتو ټولنه، دولتي مطبعه: كابل ۱۳۵۳ل.

مشـوانی، عبدالقيـوم. د خوشـحال خـان خټـک كليـات، دانـش خپرندويـه ټولنـه، دويـم چـاپ، ۱۳۸۷ الـف پټـی ۱مـخ.

# د کانکور، ستونزې، ننګونې او حل لارې

څېړونکی: پوهنیار مسعود حسن زی

لنډیز
په دې څېړنیزه لیکنه کې د کانکور ازموینې شالید، د دې ازموینې اوسنی بڼه، د ماهیت له اړخه د بدلون پر اړتیا، د ترسره شوې سروې تحلیل او پوهنتون ته د شمولیت ازموینې(کانکور) د ستونزو پر حل لارې باندې تفصیلي بحث شوی دی، چې د سروې د پایلو، کتابونو، بېلا بېلو اشخاصو سره د مرکو او نورو هېوادونو د تجربو پر اساس یې توضیحات وړاندې شوي دي. د کانکور ازموینې د اوسني بهیر ماهیتي برخې ته د انتقادي او څېړنیزې کتنې بحث یوازې په دې پورې محدود دول چې له تخنیکي پلوه د کانکور ازموینه، د ازموینو ملي اداري له خوا په کوم ډول او طریقې سره اخیستل کېږي، نیمګړی بولو؛ څکه پوهنتون ته د شمولیت په ازموینه (کانکور) کې درې مهمې اداري، چې لوړو زده کړو وزارت، پوهنې وزارت او د ازموینو ملي اداره ده رول لري.
دا لیکنه په ماهیتي برخه کې پوهنتون ته د شمولیت ازموینې( کانکور) د بدلون پر اړتیا، د سروې د پایلو پربنسټ د علومو څانګیزې ویشنې(ریاضیات او انجنري علوم، طبیعي علوم او ټولنیزو علومو) پر اړتیا او ارزښت باندې بحث کوي او په پای کې پوهنتون ته د شمولیت ازموینې د ستونزو لپاره حل لاره په کې وړاندیز شوې ده.

**سریزه**

که څه هم د کانکور ازموینې کمېټه اوس مهال د هېواد په کچه د یوې خپلواکې اداري په توګه فعالیت لري او د یو زیات شمېر ادارو او وزارتونو د تشو بستونو او نورو بېلابېلو برخو لپاره ستري ټولیزې ازموینې اخلي، خو دلته یوازې پوهنتون ته د شمولیت په ازموینې باندې بحث لرو او په دې برخه کې به د کانکور په اوسنی بڼې، ننګونو، د ماهیت له اړخه د دې بڼې د بدلون پر اړتیا، حل لارو او د مستدلو دلایلو په وړاندې

کولـو سـره بـه پـه یـوې نـوې پیشـنهادي او معقولـي حـل لارې خپلـه موضـوع را ونغـاړو.

پـه نړیوالـه کچـه د علمـي برخـې پرمختـګ د څېړنـو او مکـررو تجربـو پـه واسـطه سـره ثابـت دی او د ننني عصـر ټـول تکنالوژیکـي وسـایل د همـدې څېړنـو او تجربـو د مونـدنـو پـه پایلـه کـې را منځتـه شـوي دي، نـو اړینـه ده چـې پـه نړیوالـه کچـه د تجربـه شـویو ځیزونـو اوغـوره شـوو مکانیزمونـو څخـه ګټـه پورتـه شـي، ځکـه د دې کارونـو بیـا ځلـي تجربـه یـوازې د وخـت ضیاع ګڼو؛ ښـه دا ده، چـې د وخـت او شـرایطو پـه پـام کـې نیولـو سـره یـوازې د همدغـو تجربـو د نیمګـړو اړخونـو د بشـپړاوي او روښـانولو هڅـه وشـي.

پوهنتونونـو تـه شـمولیت ازموینـه هـم یـو لـه همداسـې پدیـدو څخـه شـمېرل کېـږي، چـې د نـړۍ پـه ټېـلا ټېلـو هېوادونـو کـې پـه مختلفـو بڼـو او طریقـو سـره اخیسـتل کېـږي. پـه دې برخـه کـې پرېکـړه چـې کـوم هغـه یـې د معیـار او علمـي نظریـو پـر اسـاس سـمه ده، یـو څـه سـتونزمنه برېښـي، خـو د هـر هېـواد پوهنتونونـو تـه د شـمولیت ازموینـې اوسـنۍ بڼـې د یـو زیـات شـمېر مکـررو تجربـو پـه پایلـه کـې غـوره شـوې دي.

پـه افغانسـتان کـې پوهنتونونـو تـه د شـمولیت ازموینـې بهیـر شـاوخوا ۶۰ کالـه مخینـه لـري، چـې پـه دې کمـه مـوده کـې هـم د اصـلاح او مثبـت تغییـر پـه هـدف پـه کـې یـو شـمېر اصلاحـات او بدلونونـه را غلـي دي. البتـه دا تغییـرات پـه لویـه کـې پـه تخنیکـي او پـه کمـه کچـه پـه ماهیتـي برخـو کـې ترسـترګو کېـږي، خـو د اوسـني عصـر د غوښـتنو او اړتیـاوو پـر اسـاس دا بدلونونـه کافـي نـه دي.

**د څېړنې مبرمیت**

پوهنتونونـو تـه پـه مسـلکي پوهـه سـنبال زده کوونکـي جذبـول، پـه تخصصـي برخـو کـې د زده کوونکـو د تعلیمـي سـویې لـوړول، د علومـو پـه ټېلـو ټېلـو برخـو کـې د زده کوونکـو د لېوالتیـا پربنسـټ د اسـتعدادونو ارزونـه، پـه نصـاب کـې اغیزنـاک تغییـرات، د غیـر ضـروري مضامینـو پـر ځـای د تخصصـي او اساسـي مضامینـو تدریـس او پـه یـوې داسـې ازموینـه کـې ګـډون، چـې ارزونـه یـې د مشـابهو پوښـتنو او شـرایطو تـه پـه پـام سـره وشـي، د دې څېړنـې ارزښـت او مبرمیـت ثابتـوي.

**دڅېړنې موخه**

دا څېړنـه پـه دې موخـه ترسـره شـوې ده، چـې پـه ماهیتـي برخـه کـې د یـو داسـې بنسـټیز بدلـون رامنځتـه شـي، چـې لـه مخـې یـې پـه ټېـلا ټېلـو برخـو کـې د اوسـني عصـر د غوښـتنې پـر اسـاس د اختصاصـي او مسـلکي زده کـړو زمینهٔ برابـره او پـه همـدې برخـو کـې بیـا یـوه پـه معیـار برابـره ازموینـه واخیسـتل شـي.

پـه دې حـل لاره کـې د اختصاصـي والـي پـه هـدف د علومـو دري لویـې برخې(ریاضیـات او انجنیـري علـوم، طبیعـي علـوم او ټولنیزعلـوم) د سـروې د پایلـو، نـورو هېوادونـو تجربـو او د زده کوونکـو د خوښـونو انـډول تـه پـه پـام سـره بېلـې شـوې دي. همـدې اختصاصـي ښانګـو تـه بـه د نهـم ټولګـي پـه پـای کـې زده کوونکـي د خپلـې لېوالتیـا پـر اسـاس نیـول کېـږي، یانـې د لسـم، یولسـم او دولسـم ټولګـي مضامیـن بـه پـه دریـو کټګوریو(اختصاصي، اساسـي او عمومـي) او ټېـلا ټېلـو سـلنو سـره وایـې، چـې لـه مخـې بـه یـې بیـا د همـدې سـلنو پـر بنسـټ پوهنتـون تـه د شـمولیت ازموینـه ورکـوي.

**د څېړنې پوښتنې**

۱ - پـه کـوم ټولګـي کـې بایـد د علومـو اختصاصـي برخـو تـه د زده کوونکـو وېشـنه وشـي؟

۲ ـ د علومو ښانګیزه وېشنه څومره اړینه او ضروري ده؟

۳ - اختصاصـي ښانګـو تـه د زده کوونکـو وېشـنه بایـد د هغـوی د اسـتعداد او کـه د لېوالتیـا پربنـا وشـي؟

**د څېړنې مېتود**

دا څېړنـه د کمپوزیـټ یـا ترکیبـي مېتـود پـه واسـطه پـه تحلیلـي او تشـریحي بڼـې سـره ترسـره شـوې ده، چـې لـه ټېـلا ټېلـو کتابونـو، راپورونـو، کلیـدي اشخاصوسـره مرکـو، پوښـتنپاڼو اوخپلـو نظرونـو او تحلیلونـو پـه وړانـدې کولـو سـره بشـپړه شـوې ده.

**د کانکور ازموینې شالید**

کانکـور ازموینـه پـه هېـواد کـې لـه ۱۳۳۹ کال راهیسـې هـر کال د دولسـمو ټولګیـو فارغانـو څخـه د هغـوی د فکـري او زده کـړه ییـزو اسـتعدادونو د ارزونـې او تحصیلـي بنسـټونو تـه د ور ځوانانـو د وره پیژندلـو پـه موخـه ترسـره کېـږي.

تر ۱۳۶۵ کال د مخه يې د امتحاناتو کمېټې په نامه د کابل پوهنتون په چوکاټ کې فعاليت درلود او د کابل پوهنتون په عمومي کتابتون کې يې خپلې چارې پر مخ ورلې. له يادې نېټې وروسته د ښوونځيو کچه په پراخېدو وه او د دولسمو ټولګيو د فارغانو تعداد کال تر بله لوړېده، د کمېټې فعاليتونه هم پراخ شول، چې له امله يې ياده کمېټه د ښوونې او روزنې په چوکاټ کې د لوړو زده کړو وزارت مرکز ته ولېږدول شوه. په ۱۳۸۶ کال کې د کانکور ازموينو کمېټه د کانکور ازموينو په رياست بدله شوه او خپل فعاليتونه يې د محصلانو چارو معينيت په چوکاټ کې پر مخ ورل. په ۱۳۹۳ کال کې د لوړو زده کړو وزارت له وړانديز سره سم ياد رياست د ازموينو په عمومي رياست واوښت.

له ۱۳۹۴ تر ۱۳۹۷ کال پورې چې کانکور ازموينه په هېواد کې د حکومت لپاره په يوه ستره معضله بدله شوې وه، د کانکور ازموينو په چاره کې د پام وړ بدلونونه رامنځته شول، چې په پای کې يې د ازموينو عمويي رياست ونده په ټولنه او حکومتي چوکاټ کې بنسټيزه کړه.

په ۱۳۹۴ کال کې د امريکا متحده ايالاتو سفارت په همکارۍ د کانکور ازموينو رياست مطبعه جوړه او د چاپ په عصري ماشينونو سمبال شوه، چې له امله يې د ازموينې داوطلبانو لپاره د پوښتنو او نورو فورمونو چاپ چارې خورا چټکې او منظمې شوې. په لومړي ځل د هر داوطلب لپاره د پوښتنو جلا کتابچې چاپ شوې، چې له مخې يې د داوطلبانو ترمنځ د نقل مخنيوی وشو.

په ۱۳۹۵ کال کې د USAID په همکارۍ د کانکور ازموينو لپاره د بايومتريک سيستم جوړ شو او د (۱۳۹۵کب۲) يې پرانيسته وشوه. ياد سيستم په لومړي ځل د ۱۳۹۵ - ۱۳۹۶ کال کانکور ازموينه کې په ټول هېواد کې په برياليتوب سره تطبيق شو، چې له امله يې په ازموينه کې د عوضي اشخاصو د ګډون مخه ونيول شوه. په ۱۳۹۵ کال کې د لوړو زده کړو وزارت د وړانديز او د هغه وخت د حکومت د کابينې په منظورۍ د کانکور ازموينو بهيرکې موسمي بدلون رامنځته شول. د ۱۳۹۶ او ۱۳۹۸ کلونو ترمنځ په هېواد کې د ازموينو عمومي رياست له لورې د دولسمو ټولګيو فارغانو ترڅنګ، ستريې ټوليزې ازموينې؛ لکه د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو ازموينې په پوره شفافيت سره واخيستلې. په ۱۳۹۶ کې د ملي تدارکاتو ټوليزه ازموينه، د هندوستان هېواد ICCR ماسترۍ بورسونو لپاره رقابتي ازموينه او نورې سترې ازموينې يادولی شو.

د همدغو اغيزناکو فعاليتونو او لاسته راوړنو له مخې د وخت حکومت پرېکړه وکړه، چې د ازموينو رياست په خپلواکه توګه د ازموينې د يوې سترې اداري په توګه په هېواد کې ټوليزې ازموينې مديريت کړي. د ازموينو عمومي رياست د رياست جمهوري د ۱۳۹۷ کال زمري مياشتې ۲۲ نېټې (۴۹) ګڼې فرمان له مخې د لوړو زده کړو وزارت له چوکاټ څخه جلا او د (ازموينو ملي اداري) تر نامه لاندې يې فعاليتونه پيل کړل، چې د افغانستان د اسلامي امارت په راتګ سره تر لږ ځنډ ورسته دا اداره بېرته د يوې خپلواکې اداري په حيث ومنل شوه.

د ازموينو ملي اداره اوسمهال د دولسمو ټولګيو فارغانو عمومي، متفرقه، شپې، اختصاصي، حقوقي او قضايي ستاژ، دفاعي پوهنتون، پوليسو ملي اکاډمۍ، عامې روغتيا وزارت تخصص بشپړولو، طبي عالي شورا او نورې سترې ډله ييزې ازموينې اخلي.

(/https://nexa.gov.af )

د کانکور په برخه کې په تحريري توګه ډېر کم او محدود معلومات شتون لري، شته معلومات هم يوازې په رسمي قوانينو، مقررو او لايحو کې دي، چې له مخې يې دا بهيرپرمخ ورل کېږي. يوازې د پوهنې وزارت د پلان او ارزونې عمومي رياست او د ستراټيژيکې ارزونې د مراقبت رياست د ۱۳۹۷لمريزکال کلنی راپور چې د(مرور مشترک تعليم و تربيه) ترسرليک لاندې نشر شوی دی، لاس ته راغلی چې د يوه وړانديز په توګه يې په نهم ټولګي کې د يوې ملي ازموينې اخيستلو وړانديز کړی دی، چې له مخې يې بايد د علومو دريو(مسلکي، اسلامي او عمومي) برخو ته زده کونکي ونيول شي.

د کانکور ازموينې اوسنۍ بڼه

د لېسانس په کچه لوړو زده کړو ته د شاملېدو په هدف د کانکور ازموينه په هېواد کې له ۱۳۳۹ کال راهيسې هر کال د دولسمو ټولګيو فارغانو څخه د هغوی د فکري او زده کړه ييزو استعدادونو د ارزونې او تحصيلي بنسټونو ته د ورځ ځوانانو د ور پيژندنې په موخه اخيستل کېږي. د وخت او شرايطو د اړتيا پر بنا يې په ماهيتي او فني لحاظ يو شمېر بدلونونه را غلي دي، چې په شاليد کې يې ورباندې د اړتيا ور بحث شوی دی.

د لوړو زده کړو وزارت د قانون د ۵۶ مادې پر اساس د دولسمو او څوارلسمو او يا د هغه د معادلو ټولګيو فارغين د شاملېدو د ازموينې له بريالي تېرولو وروسته، د اړونده مقرراتو او لوايحو مطابق، د لوړو زده کړو په مؤسسه کې نيول کېږي.(د لوړو زده کړو وزارت ملکي قانون، ۱۳۹۴:۶۰)

د قانون د پورته مادې پر بنسټ لوړو ز ده کړو وزارت (د لوړو او نيمه لوړو زده کړو د شموليت ازموينو لايحه) ترنامه لاندې يوه لايحه تصويب کړه، چې د ازموينې کمېټې ټول فعاليتونه يې د همغې مطابق مخکې وړل، کله چې دا رياست د لوړو زده کړو وزارت څخه جلا او په ازموينو ملي اداري باندې بدل شو، همدا لايحه د يو شمېر تعديلاتو په را وستلو سره په مقرره باندې واوښته، چې اوس مهال د همدې مقررې پر اساس د ازموينو ټولې چارې تنظيمېږي.

د دولسمو ټولګيو د فارغ شويو شاګردانو څخه د کانکور اوسنۍ ازموينه په بېلا بېلو مرحلو کې اخيستل کېږي او تر ډېره هر دور ته ځانګړې پوښتنې جوړېږي. دا پوښتنې د لېسې دورې( لسم، يولسم او دولسم) ټولګيو له هغه نصاب او مفرداتو څخه جوړېږي، چې ورانده يې پوهنې وزارت کاروونه بشپړ کړي او په ښوونځيو کې عملاً" تدرسېږي. هر زده کوونکی چې د خپلې خوښې ځانګې ته ازموينه ورکوي، د دې ټولو مضمونونو په زده کولو باندې مکلف دی؛ يانې د طب، زراعت، انجنيرۍ، فارمسۍ، کمپيوټر ساينس، حقوقو... او ادبياتو لپاره يو ډول ازموينه اخيستل کېږي.

هرمحصل د پنځه انتخابونو او درې ځلې ازموينې ورکولو حق لري، دوه ځله ورځې او يو ځل هم شپې ازموينه کې ګډون کولای شي. د دې ازموينې پوښتنې(۱۶۰) دي او له څلورو اصلي برخو(رياضيات۴۳، طبيعي علوم۴۲، ټولنيز علوم او اسلاميات ۳۹،ژبو او جيولوجي ۳۶) څخه تشکيل شوې او ټولې پوښتنې يو ډول نمرې لري، نو يو زده کوونکی مکلف دی په هره برخه کې پوره مطالعه ولري، چې دخپلې خوښې څانګې ته لاره پيداکړي.

## د ماهيت له مخې د کانکور ازموينې د بدلون اړتيا

که موږ د سيمې او نړۍ په کچه يو شمېر هېوادونه ته نظر وکړو، له ۱۲ ټولګيو د فارغ شوو زده کوونکو څخه د کانکور اخيستنې او لوړو زده کړو ته يې د جذب بېلا بېلې طريقې او مکانيزمونه غوره کړي دي. البته اوسنې مکانيزمونه يې د يو شمېر تېرو ناکټورو او غير مؤثرو تجربو د تکرار پر اساس غوره کړي دي او که په دې برخه کې د دوی د کانکور اخيستنې طريقو اومکانيزمونو ته کتنه وشي، دوی هم د ماهيتي اړخ له مخې زموږ په څېر د کانکور ابتدايي او غير اغيزناکې حل لارې او طريقې کارولې دي، خو بالاخره په دې توانېدلې، چې د موجوده وخت لپاره يوه غوره ميکانيزم او طريقه وټاکي.

که چېرته د بېلګې په توګه د امريکا، انګلستان، فرانسې، هسپانيې، ترکيې، چين، فنلنډ، ايران او جاپان په هېوادونو کې د محصلينو د ارزونې او پوهنتونونو ته يې د جذب بهير د تمرکز والي او غيرمتمرکزوالي له اړخه وڅېړو، نو دا هېوادونه په درېو کټګوريو سره وېشل شوي دي:

الف: متمرکز: هغه هېوادونه دي، چې د دوی د لوړو زده کړو په مرکزونو کې، پوهنتونونو ته د زده کوونکو د جذب بهيرټوله يا لويه برخه د دولت يا د اړونده ادارو تر مستقيمې ښکېلتيا لاندې ترسره کېږي؛ لکه: ترکيه، چين، ايران.

ب: نيمه متمرکز: هغه هېوادونه دي، چې د دوی د لوړو زده کړو په مرکزونو کې د زده کوونکو د جذب داخلي پروسې يوه برخه يې د دولت يا د اړونده ادارو تر نظارت لاندې ترسره کېږي؛ لکه: جاپان، انګلستان، فرانسه، فنلينډ.

ج:غير متمرکز: هغه هېوادونه دي، چې د دوی د لوړو زده کړو په مرکزونو کې د زده کوونکو د شمولیت پروسې هیڅ برخه د دولت یا ورپوري د اړوندو بنسټونو تر مستقیم نظارت لاندې نه وي؛ لکه: امریکا او هسپانیا.

دا هېوادونه د ملي ازموینې د ترسره کولو یا نه ترسره کولو پر اساس په دوه برخو وېشل کېدای شي.

الف: هغه هېوادونه دي، چې لوړو زده کړو او پوهنتونونو ته محصلين د ملي ازموينې له لارې نيسي، چې ډېری متمرکز او نيمه متمرکز هېوادونه په کې شاملېږي.

ب: هغه هېوادونه دي چې لوړو زده کړو او پوهنتونونو ته محصلين له ملي ازموينې پرته د نورو مکانیزمونو پر اساس جذبوي، چې غير متمرکز هېوادونه په دې ډله کې شاملېږي.

افغانستان هم يو له هغه هېوادونو څخه دی، چې کانکور ازموينه يې د دولتي او غيردولتي پوهنتونونو او لوړو زده کړو موسساتو لپاره په متمرکز ډول او د يوې ملي ازموينې په پايله کې يې زده کوونکي يادو مرکزونو ته جذبيږي.

په اوسنۍ بڼه کې فارغ شوي زده کوونکي ته د تخصصي څانګو د نشتوالي له وجهې د علومو د هرې څانګې د انتخاب حق ورکړل شوی. په دې برخه کې اړوندو ادارو، ده ته د دې حق ورکوني په برخه کې هغه کارونه چې بايد ترسره کړي وای نه دي تر سره کړي، نوموړی که د خپلې خوښې هره رشته او څانګه انتخابوي، په دې مکلف دی، چې ثانوي دوري(۱۰تر ۱۲) ډېر مضامين مطالعه او زده کړي؛ نوموړی د دې پر ځای چې د تخصص له اړخه د خپلې خوښې وړ برخې د مضامينو زده کړه حاصله کړي، وخت يې د نورو برخو د مضامينو پر زده کړه باندې ضايع کېږي او د مسلکي اړخه د خپلې خوښې وړ څانګې ته په جذب سره يوازې محدود او په کمه کچه معلومات يې ترلاسه کړي وي؛ نو ويلای شو په کومه کچه چې د څانګو په انتخاب کې د شاګرد پوهې، استعداد، مهارت او خوښې ته نظر کول مهم دي په همغه اندازه، لا تر هغه زيات شاګرد ته د هغه د خوښې او مسلک پربنا د مضمونونو انتخاب حق ورکول هم مهم او ضروري دي. اړينه ده چې د پيل په توګه د مسلک او تخصص پربنا د پوهنتونونو او ښوونځيو په سطحه د درېو لويو برخو(رياضيات او انجنيري علوم، طبيعي علوم او ټولنيز علوم) د وېشلو او په څنګ کې يې د نصاب بېلوني او جوړوني په برخه کې کار ترسره شي، چې په حل لاره کې به يې په حل چارو او د تطبيق په موارد و ځانګړې بحث وشي.

بله دا چې په هغو ټولييزو ازموينو کې چې د نمرو پر اساس يې درجه بنه دي کېږي او د همدې درجه بندی او نمرو پر اساس بيا دوی څانګو او پوهنځيو ته جذبېږي، اړتيا ده چې يو کس د مشابهو پوښتنو او تر يو شان شرايطو لاندې و ارزول شي، چې اوسمهال د مختلفو دورونو او نا مشابه پوښتنو پر اساس ارزونه ترسره کېږي. په روزنيزه ارزونه کتاب کې د معياري پوښتنو په اړه وايي:

د جوړښت له مخې معياري ياسټنډرډ پوښتنې هغه دي چې د امتحان اخيستلو او نمرو ورکولو په يوشان طريقو باندې تاکيد کوي، ياني د برابرښت په شتون کې د امتحان اخيستلو ته سټنډرډ(معياري کول) وايي.(خپلواک،۱۳۸۹:۲۸). په پای کې هم په کلي توګه د دې پروسې د بدلون پر اړتيا لاندې ټکي وړاندې کوم:

- پوهنتونونو ته په مسلکي پوهه سنبال زده کونکي د جذب پربنا يې د بدلون اړتيا؛
- په تخصصي برخو کې د زده کوونکو د تعليمي سويې د لا لوړولو له اړخه؛
- د زده کوونکو د لېوالتيا پربنسټ د استعدادونو ارزونه، د علومو بېلابېلو برخو ته؛
- په يوې داسې ازموينې کې د ګډون په موخه چې ارزونه يې د مشابهو پوښتنو او شرايطو ته په پام سره وشي؛
- د غير ضروري مضامينو پر ځای د تخصصي او اساسي مضامينو د تدريس له اړخه؛
- د وخت د غوښتنو پر اساس په نصاب او مفرداتو کې د مثبتو او ګټورو بدلونو را وستو له اړخه يې د بدلون اړتيا.

### د سروې د پايلې پر بنسټ يې د بدلون اړتيا

دا چې پوهنتون ته د شموليت ازموينه د پوهنتونونو د استادانو له خوا اخيستل کېږي، نو د هېواد د پوهنتونونو استادانو ته مو پوهنتونونو ته د شموليت ازموينې پرتخنيکي او ماهيتي برخو کې د بدلون او تعديلاتو د اړتيا په موخه، په انلاين بڼه پوښتنپاڼې وېشلې وې. دا سروې د هېواد د مختلفو پوهنتونونو د ۵۲ استادانو د نظر ورکولو په مرسته بشپړه شوې ده، چې له دې جملې ۶ دکتور ۱ نوماند دکتور، ۳۸ ماستر، ۷ يې هم لېسانس په کچه زده کړې لري.

### لومړی: په تخنيکي برخه کې د پوښتنپاڼو شننه:

په تخنيکي برخه کې شپږ پوښتنې راوړل شوې وې، چې د تخنيکي اړخه د ستونزو د کچې د معلومېدو په اړه په کې د استادنو نظرونه غوښتل شوي وو. پوهنتون ته د شموليت په ازموينه کې مشابه ځواب لرونکو، هيڅ ځواب نه لرونکو پوښتنو سره اکثريت استادان مخ شوي دي او په کمه کچه بيا نه دي مخ شوي، نو له تخنيکي اړخه دا هغه ستونزه ده چې د ازموينې ملي اداره بايد ورته جدي پام وکړي.

د پوښتنو په کتابچه کې د مشابه پوښتنو راتلو، فونټ او ژباړې له اړخه د ستونزو په برخه کې لوی اکثريت استادان وايي، چې په کمه کچه له دا ډول ستونزو سره مخ شوي دي او کم شمېر نور بيا وايي چې له دا ډول ستونزو سره ډېر کم او يا هم هيڅ نه دي مخ شوي، که څه هم په دې برخه کې به ستونزې کمې وي، خو اړينه ده د ازموينو ملي اداره يې دا کمه کچه هم له منځه يوسي.

د پوښتنو کتابچې اوځواب پاڼې د ډيزاين د بدلون په اړه، لوی اکثريت د بدلون غوښتنه کړې ده، يوشمېر نور بيا اوسنۍ بڼه سمه ګڼي او تغيير په کې نه غواړي.

پوهنتونونو ته د شموليت پر پروسې د شفافيت او دا‌ډمنتيا په اړه، غوڅ اکثريت د ازموينو په ملي اداري او دې پروسې باندې باور لري، په دې برخه کې د نه باور لرلو سلنه صفر ده.

د پورتنۍ سروې د تحليل پر اساس د ازموينې ملي اداره، بايد په تخنيکي برخو کې د شته ستونزو د حل لپاره هڅې وکړي.

### په ماهيتي برخه کې د پوښتنپاڼې شننه

د دې پوښتنې په ځواب کې، چې د مختلفو دورونو او نامشابه پوښتنو پر اساس ارزونه معياري نه ده، ډېر شمېر استادان دا مني چې د معياري ازموينې اخستلو له اړخه دا يوه ستونزه ده او ډېر کم شمېر استادان بيا دا ستونزه نه ګڼي. د جوړښت له مخې معياري ازموينه هغه ازموينه ده، چې د يوشان والي د اصل پر بنسټ ترسره شي، چې اوسمهال دا اصل نقض کېږي. په نوي وارنديز شوي حل لاره کې ورته حل لټول شوی دی.

پوهنتون ته د شموليت ازموينهپه درېو لويو برخو(رياضيات او انجنيري علوم، طبيعي علوم او ټولنيز علوم) وېشلو په اړه، لوی اکثريت د دې وېشنې پلوي دي او په دې برخه کې هيڅ کس داسې نشته چې د علومو د دې ځانګيزې ويشنې سره مخالف وي، البته په دې څېړنه کې دې ټکي ته پوره پام شوی دی.

د علومو پورته درېو برخو ته د زده کوونکو وېشنه بايد د دوی د علاقې پر اساس وشي، غوڅ اکثريت استادان د لېوالتيا پر اساس د وېشنې سره موافق دي او مخالف نظر په کې هڅ نه دی ورکړل شوی.

د علومو پورته درېو برخو ته د زده کوونکو وېشنه بايد د دوی د استعداد پر اساس وشي، په دې اړه هم لوی اکثريت د استادانو په دې نظر دی، چې استعداد ته په کتو بايد دا وېشنه وشي، په دې برخه کې هم مخالف نظر نه لرو.

په نابلوغيت سن کې له برخليک ټاکوونکو پريکړو سره څومره مخالف ياست؛ په اړه يې يو لوی شمېر استادان خپل مخالفت ښودلی دی، په خپل ځای به يې د حقوقي اړخ له مخې پر ارزښت بحث وکړو. په ډېره کمه کچه بيا موافق دي، چې ماشوم کولای شي دا ډول پرېکړه وکړي.

په ماهيتي برخه کې د کانکور ازموينې د تغيير سره څومره موافق ياست، لوی اکثريت يې په اړه موافق نظر ورانديې کړی دی او ډېره کمه سلنه بيا مخالف دي، د علومو وېشنه يوه لويه اړتيا ده، چې پر اساس يې يادې څېړنې کې

هدف ته د رسېدنې کوشش شوی دی.

نوې پیشنهادي طرحه د ترسره شوې سروې نتایجو ته په پام سره جوړه شوېده، چې په خپل ځای به ورته اشاره وشي.

**پوهنتونونو ته د شمولیت ازموینې حل لاره**

دا چې وړاندې ترډې د ماهیتي اړخ له مخې د کانکور په ستونزو او مشکلاتو او دې ستونزو ته د بدیلو حل لارو په اړتیا وو باندې پوره بحث وشو او په دې برخه کې مو ټول هغه موارد په ګوته کړل، چې د ماهیتي اړخ له مخې یې د ۱۲ څخه د فارغ شویو زده کوونکو کانکور ازموینه، دمعیار او ماهیتي اړخه له مخې تر سوال لاندې را وستله، نو په همدې بنا اړتیا ده، چې پر یوې داسې بدیلې حل لارې باندې کار وشي، چې وکولای شو شته ستونزو ته په کې حل لارې پیدا او د راتلونکې لپاره یې د بدیل په توګه تطبیق او عملي کړو.

د تخنیکي او ماهیتي برخو د ستونزو په اړه د ترسره شوې سروې تحلیل او تجزیه مخکې وشوه، د تخنیکي او فني اړخ له مخې د کانکور ازموینې مثبت او منفي اړخونه یوازې پر ازموینو ملي اداري پورې مختص کېږي او په دې برخه کې چې کومې ستونزې موجودې دي، کچه یې کمه او محدوده ده او حل یې یوازې د ازموینو ملي اداري مسولیت جوړېږي.که څه هم دا ستونزې کمې او د زیان کچه یې محدوده ده، خو بیا هم اړتیا ده چې د ازموینو ملي اداره یې په اړه لازمې کړنې ترسره کړي، چې په راتلونکې کې په دې لویه او ملي بهیرد اعتماد کچه کښته نه شي، چې دا ستونزې به خپل ځای تشریح او بیان شوي، خو د ماهیت، اختصاصي والي او مسلکي والي له اړخه ستونزې لویې او د ستونزو څخه را پیداشوي زیانونه یې هم لوی دي، چې اړتیا ده د دې ستونزو د حل لپاره بنسټیز قدمونه واخیستل شي.

کله چې پوهنتونونو ته د شمولیت ازموینې په ماهیتي او مسلکي اړخ باندې څېړنه کېږي او ستونزو ته یې په حل لارو باندې فکر کېږي، نو دلته بحث بیا د ازموینې ملي اداري له چوکاټ څخه وځي او په دې برخه کې د ستونزو د حل ځینې مسولیتونه لوړو زده کړو او پوهنې وزراتونو ته هم ور کرځي او د دې ستونزو د یو بنسټیز او ګټور حل په هدف د ټولو ادارو همکارۍ او همغږۍ ته اړتیا پیښېږي.

د۱۳۹۷ لمریز کال د هغه را پور پر اساس چې د پوهنې د پلان او ارزونې عمومي ریاست او د ستراتیژیکې ارزونې د مراقبت ریاست له خوا د «مرور مشترک تعلیم و تربیه» تر سرلیک لاندې اماده شوی، په یوه برخه کې یې د(بررسی کلی از امکان پذیری تطبیق امتحان ملی درختم صنف ۹ در سطح کشور و ظرفیت ها و منابع مورد نیاز) ترسرلیک لاندې بېلا بېل موضوعات تشریح کړي دي. دا راپور په ولایتونو کې د پوهنې وزارت د مسوولینو د نظر پر اساس جوړ شوی دی، په نهم ټولګي کې یې د ملي ازموینې له لارې زده کړه ییزې څانګې سره بېلې او په دربو برخو وېشلې دي: (مسلکي او تخنیکي زده کړې، اسلامي زده کړې او عمومي زده کړې) او په دې اړوند یې د شته ظرفیتونو او منابعو یادونه هم کړې ده، چې په پایله کې د یو لړ ستونزو؛ لکه: د تخنیکي، مسلکي او د اسلامي تعلیماتو په برخو کې یې د جذب د ظرفیت نشتون او همدارنګه دې برخو سره د شاګردانو د نه لېوالتیا یادونه کړې ده، چې پربنسټ یې د هغه وخت لپاره دا بهیرګټوره نه ده بلل شوې او په راتلونکې کې یې د تطبیق هیله او ارزو ښودلې ده.(مرور مشترک تعلیم وتربیه، ۱۳۹۷ : ۴۳)

هېره دې نه وي چې د علومو تخصصي وېشنه د وخت یوه مهمه اړتیا ده او د یاد را پور د پایلو پر اساس دا وېشنه د علومو دربو لویو څانګو(تخنیکي ـ مسلکي، اسلامي او عمومي زده کړو) ته یوه اړتیا او د تایید ور بولو، خو د عمومي زده کړو په برخه کې د پوهنتونونو په سطحه د شته څانګو زیاتوالی هم دا ایجابوي، چې په دې برخه کې د علومو څانګیزه وېشنه ترسره شي، چې موږ په دې څېړنه کې زده کوونکي د نهم ټولګي په پای کې د علومو په دربو څانګو( ریاضیات او انجنیري علوم، طبیعي علوم او اجتماعي علوم) باندې وېشلي دي؛ دا چې دا وېش ولې په دربو برخو سره ګټور دی؟ یا دا وېش د نهم ټولګي څخه په کښته ټولګیو کې د علمي او حقوقي اړخ له مخې کومې ستونزې رامنځته کوي؟دلته تر انتقادي کتنې لاندې بحث ورباندې شوی دی.

لومړی: کـه د عمومـي زده کـړو پـه برخـه کـې د زده کوونکـو وېشـنه راتلونکـو زده کـړه ییـزو برخـو تـه لـه نهـم ټولګـي څخـه پـه کښـته ټولګيـو کـې ترسـره شـي، د علمـي او حقوقـي اړخ لـه مخـې لـه ځـان سـره کومـې سـتونزې لـرلای شـي؟ یـا پـر دې برخـو وېشـنه د دوی د لېوالتیـا پـر اسـاس ګټـوره ده او کـه د یـوې ملـي ازموینـې لـه لارې یـا دواړه بایـد پـه پـام کـې ونیـول شـي؟ دلتـه بـه بحـث وربانـدې وکـړو.

الـف: کـه مـوږ د اسـلام سـپیڅلي دیـن تـه مراجعـه وکـړو د ماشـومتوب دوره پـه هلکانـو او نجونـو کـې د بلـوغ تـر مرحلـې اټکل شـوې ده، دا چـې پـه قرانکریـم کـې د بلـوغ د مرحلـې لپـاره یـو ټاکلـی سـن نـه دی مشـخص شـوی، نـو فقهـاوو متفـاوت تعبیرونـه او اټکلونـه کـړي دي، ځینـې بلـوغ پـه دولونـو وېشـي او ځینـې نـورو بیـا بلـوغ ترجنسـي بلوغیـت پـورې نـه محـدودوي، ځینـې بیـا د معاملاتـو او عباداتـو لپـاره بلوغیـت سـره بېلـوي. پـه هرصـورت دلتـه بـه د ځینـو مشـهورو فقهـاوو نظرونـه بیـان کـړو.

شـافعي او حنبلـي مذهـب کـې بلـوغ تـه د رسـیدو عمـر د ۱۵ کلنـۍ پـوره کېـدل او پـه مالکـي مذهـب کـې یـې د ۱۷ او ۱۸ کلنـۍ پـای ښـوولی دی.

امـام ابوحنیفـه رح د هلـک لپـاره ۱۸ او د نجلـۍ لپـاره ۱۷ کلنـي بلوغیـت تـه د رسـیدنې سـن ټاکلـی، خـو د جمهـورو فقهـاو لـه نظـره د ۱۵ کلنـي عمـر بشـپړېدل د هلـک او نجلـۍ لپـاره د بلوغیـت سـن تـاکل شـوی دی،.
(الزحیلي، ۲۰۱۵: ۳۴۲)

د مدنـي قانـون پـه اویایمـه مـاده کـې وایـي: د ازدواج اهلیـت هغـه وخـت پـوره کېـږي، چـې نارینـه وو د ۱۸ کلنـۍ عمـر او ښـځو د ۱۶ کلنـۍ عمـر پـوره کـړی وي.(د افغانسـتان مدنـي قانـون،۱۳۹۴: ۱۱)

همدارنګـه د ماشـوم دحقوقـو نړیـوال کنوانسـیون پـه لومړۍ مـاده کـې ماشـوم داسـې تعریـف شـوی دی: هـر څـوک چـې عمـر یـې لـه ۱۸ کالـو کـم وي ماشـوم دی، یـا خـو دا چـې د منـل شـویو قوانینـو پربنسـت د هغـه عمـر یـا سـن کـم تـاکل شـوی وي.(ماشـوم د حقوقـو نړیـوال کنوانسـیون،۱۳۶۳)

کـه وګـورو د پوهنـې وزارت د قانـون د لومړۍ مـادې پـه لومړي بنـد کـې وایـي: ماشـومان لـه شـپږ څخـه تـر نهـه کلنـۍ بشـپړولو پـورې اجبـارا د منځنیـو زده کـړو د دورې پـه ښـوونځیو کـې شـاملېږي.(پوهنې قانـون، ۱۳۸۷: ۱۳)، مطلـب دا چـې یـو ماشـوم بایـد پـه ۶ کلنـۍ د ښـوونځي لومـړي ټولګـي تـه داخـل شـي او منځنـۍ دوره بیـا د همـدې قانـون پـه اوولسـمه مـاده کـې له(لومړي څخـه د ۹) ټولګـي ترپـای پـورې ښـوول شـوې ده.

پورتنیـو تشـریحاتو تـه پـه پـام سـره بـه د جمهـورو فقهـاوو نظـر چـې د ۱۵ کلنـۍ عمـر تکملېـدل یـې بلوغیـت تـه د رسـیدنې سـن ټاکلـی، د دې څېړنـې لپـاره د اسـاس پـه توګـه ومنـو.

د مکاتبـو مسـوولین او د زده کوونکـو کورنـۍ د سـن بشـپړېدو برخـې تـه پـه نـه پـام سـره خپـل ماشـومان پـه پنځـه کلنـۍ کـې هـم مکاتبـو تـه شـاملوي، پـه همـدې اسـاس د منځنـۍ دور پـه پـای(۷ او ۸ ټولګیو) کـې بـه یـو زده کونکـي د ۱۳ یاهـم ۱۴ کلنـۍ سـن تـه رسـېدلی وي، چـې ډېـر ماشـومانو پـه دې سـن کـې لا د بلوغیـت مرحلـې تـه نـه وي رسـېدلي او پـه دې سـن کـې یـو زده کوونکـي تـه د نومـوړي د لېوالتیـا پربنـا د راتلونکـي زده کـړه ییـزو برخـو د انتخـاب صلاحیـت ورکـول بـه لـه حقوقـي پلـوه او د ترسـره شـوي سـروې د پایلـو پـر بنسـټ، چـې لـوی اکثریـت اسـتادانو یـې مخالفـت ښـودلی سـمه پرېکـړه نـه وي، نـو د پایلـې پـه توګـه ویـلای شـو، چـې پـه دې سـني مرحلـه کـې ډېـره برخـه شـاګردان لا د بلوغیـت مرحلـې تـه نـه وي رسـېدلي اوپـه دې سـن او عمـر کـې دوی تـه د دا ډول برخلیـک ټاکوونکـو موضوعاتـو پـه اړه د پرېکـړو صلاحیـت ورکـول پرځـای او سـم نـه برېښـي.

ب: کـه لـه لسـم ټولګـي څخـه پـه کښـته ټولګـي کـې د زده کوونکـو ځانګـېزه وېشـنه د هغـوی د اسـتعداد معلوملـو د یـوې ځانګـړې ملـي ازموینـې او یـا هـم د تېـرو کلونـو د نمـرو د سـلنې پـر اسـاس وشـي، نـو پـه داسـې حالـت کـې بـه یـو د زده کونکـي لېوالتیـا لـه پامـه غورځېدلـې وي او بلـه دا چـې ډېـر ځلـه داسـې پېښـه شـوي، چـې د انسـانانو فطـري اسـتعدادونه د ژونـد پـه یـوې ټاکلـې مرحلـه او برخـه کـې رشـد کـوي، چـې ممکـن بلـوغ مرحلـې تـه پـه رسـیدو زده کونکـي پـه خپـل انتخـاب پښـېمانه او رایـه یـې بدلـه شـي. دربـېم داچـې د یـو ناسـالم رقابـت پـر اسـاس بـه د

ماشومانو پلرونه او اقارب د خپلې خوښې ور برخې په ځینو مضمونونو کې د نمرو لوړولو په هدف مداخلې ته وهڅیږي. نو ویلای شو، چې له لسم ټولګي څخه کښېته د علومو څانګو ته د استعدادونو د معلومولو دا ازموینه د ستونزې حل نه، بلکې ښایي د نویو ستونزو د ایجاد باعث وګرځي.

حل لاره: پورته ټولو ستونزو ته د حل وړاندې کولو په موخه به ترسره شوې سروې د پایلو پربنسټ نور د علومو درېو برخو ته(ریاضیات او انجنیري علوم، طبیعي علوم، ټولنیز علوم) زده کوونکي جذبیږي. دوی به یوازې لسم، یولسم او دولسم ټولګی په اختصاصي – مسلکي ډول سره وایي او یوازې د لسم، یولسم او دولسمو ټولګیو د مضامینو څخه به پوهنتون ته د شمولیت ازموینه اخیستل کېږي، د دې دوه ټولګیو مضامین به په درېو کټګوریو کې شامل وي(اختصاصي، اساسي او عمومي یا ښوونځي شموله) مضامین؛ د بېلګې په توګه، د «ریاضي» مضمون به د ریاضیاتو او انجنیري علومو په برخه کې د اختصاصي مضمون په توګه، د طبیعي علومو برخه کې د اساسي او ټولنیزو علومو برخه کې به د عمومي مضمون په توګه په مشخصو سلنو سره لوستل کېږي. په لسم ټولګي کې به ۵۰ سلنه اختصاصي ۳۰ سلنه اساسي او ۲۰ سلنه ښوونځي شموله یا عمومي او یولسم ټولګی کې به ۶۰ سلنه اختصاصي، ۲۵ سلنه اساسي، ۱۵ سلنه عمومي او په دولسم ټولګي کې به ۷۰ سلنه اختصاصي ۲۰ سلنه اساسي او ۱۰ سلنه هم عمومي یا ښوونځي شموله مضامین لوستل کېږي.پوهنتون ته د شمولیت په ازموینه(کانکور) کې به هم د علومو د هرې برخې ۷۰ سلنه پوښتنې له اختصاصي، ۲۰ سلنه له اساسي او ۱۰ سلنه به له عمومي مضامینوڅخه رواړل کېږي. هیره دې نه وي چې ټول سوالونه به یو شان نمرې لري.

دا چې ولې باید په لسم ټولګي(د نهم ټولګي پای) کې د زده کوونکو وېشنه ترسره شي؛ څو دلایل په ګوته کولای شو:که د پوهنې وزارت د قانون پر اساس لومړي ټولګي ته د شاملېدو سن شپږ کلني په پام کې ونیسو، نو یو زده کونکی به د نهم ټولګي په پای کې ۱۵ کلنی سن ته رسېدلی وي، چې د سن په برخه کې به حقوقي ستونزه حل شي، بله دا چې د ښوونځي منځنۍ دوره به ختمه او ثانوي یا د لېسې دوره به پیل شي، ورستۍ خبره هم دا چې یو زده کوونکی به د خپلې راتلونکې څانګې د ټاکلو حقوقي صلاحیت(بلوغیت مرحلې ته رسېدنه) هم ترلاسه کړی وي.

د ترسره شوې سروې پر اساس راته معلومه شوه، چې غوخ اکثریت په دې نظر و، چې د علومو هرې برخې ته باید زده کونکي د دوی د لېوالتیا او بیا د استعدادونو او مهارتونو پر اساس جذب شي. اروا پوهنه او د روزنې نوې نظریې او څېړنې، په زده کړه او روزنه کې «لېوالتیا» یو ډېر اغیزناک عامل بولي. حتی یو شمېر پوهان په دې اند دي، چې لېوالتیا د هرې چارې د ترسره کولو لپاره اغیزناک عامل دی. همدارنګه ابن سینا د روزنې په بهیر کې د زده کوونکو فطري استعدادونو او ورتیاوو ته پام کول ضروري بولي.(خپلواک،۱۳۹۶: ۱۱۸).

پورته دلایلو او دې دوه مهمو اصلونو(لېوالتیا او استعداد) ته په کتو سره به یو زده کوونکي د علومو هره برخه په خپله خوښه انتخابوي، چې د خپلې خوښې پر اساس زده کړییزه څانګه ولولي او د استعداد او مهارت ارزونه به یې پوهنتون ته د شمولیت په ملي ازموینه کې معلومېږي، چې شته شرایطو ته په پام سره به هم دواړه اصلونه په پام کې نیول شوي وي او هم به د ازموینې د شفافیت او مالي سرچینو سپما شوې وي.

هو هرکس به یوازې په خپله انتخاب کړې برخه کې پوهنتون ته شمولیت د درې ځله ازموینې حق لري، چې دوه ځلې یې ورخپې او یوه ځل هم شپې پروګرام ته، په دې شرط چې هغه برخه کې د شپې پروګرام شتون ولري. د هرې برخې له دولسم ټولګي څخه فارغ شوی زده کوونکی به د علومو په یوه بله څانګه کې هم یوازې د یوځل ازموینې ورکونې له حق څخه برخمن وي. په دې شرط چې په ښوونځي کې د انتخاب کړې برخې په یوه ازموینه کې یې ګډون کړی وي.

**دوهم:** ولې علوم په (ریاضیات او انجنیري علومو، طبیعي علومو او ټولنیزو علومو) درېو لویو برخو باندې وویشل شول ارتیا یې څه ده؟

مورډ لـه پـوره غـور او دقـت وروسـته علـوم پـه دريـو لويـو برخـو سـره وويشـل او دا وېـش د ترسـره شـوي سـروې د تحليـل، د نـورو هېوادونـو د تجربـو، د زده کوونکـو د خوښـونې انـډول او د افغانسـتان پـه تعليمـي او تحصيلـي نظامونـو کـې شـته ارتيـاوو تـه پـه پـام سـره شـوى دى.

پـه هېـواد کـې پوهنتـون تـه د شـموليت ازموينـه پـه متمرکـز ډول، يانـې د دولـت او يـا پـه هغـه پـورې د اړونـدو ادارو تـر مستقيم نظـارت لانـدې اخيسـتل کېـږي، نـو پـه داسـې يـو حالـت کـې سـخته ده چـې د هـر پوهنځـي او يـا هـم د علومـو د ډېـرو برخـو لپـاره د ازموينـو اخيسـتلو امکانـات برابـر شـي، نـو د بيـل لپـاره يـې پـه دريـو برخـو ويشـل ترټولـو غـوره لار ده. البتـه کـه پـه اوږد مهـال کـې د علومـو ډېـرو برخـو او يـا هـم هـر پوهنځـي تـه بېلـه اختصاصـي ازموينـه واخيسـتل شـي دا بـه پـه مسـلکي پوهـه د يـوه لايقـه زده کوونکـي د روزنـې او جـذب غـوره او ګټـوره طريقـه وي، خـو دا کارونـه هلـه ممکـن دي چـې کانکـور لـه متمرکـز والـي څخـه نيمـه متمرکـز والـي او بالاخـره غيرمتمرکـز شـکل تـه واوړي.

داچـې ولـې يـې پـه دوه برخـو نـه ويشـو ځـواب دا دى، چې د پوهنتونونـو پـه کچـه يـو زيـات شـمېر نـوي پوهنځـي او څانګـې را منځتـه شـوي، نـو د اختصـاص والـي لـه اړخـه علـوم پـه دوه برخـو ويشـلو سـره سـتونزه نـه حـل کېـږي او بلـه دا چـې کلـه د علومـو د اختصاصـي ټولګـي پـه لسـم کـې سـره بيـل شـي، نـو د اړتيـا وړ اختصاصـي مضامينـو د تدريـس پـه دريـو ټولګيـو کـې ممکـن نـه دى، چـې پـر همـدې اسـاس مـو علـوم د اوس لپـاره پـه لانـدې دريـو برخـو سـره وويشـل.

الـف: رياضيـات او انجنيـري علومـو برخـې تـه دا پوهنځـي شـامليږي: انجنيـري، پوليتخنيـک پـورې اړونـد ډېرپوهنځـي، کمپيوتـر سـاينس، رياضـي، اقتصـاد برخـې ځينـې ديپارتمنونـه او داسـې نـور....

ب: طبيعـي علومـو برخـه: معالجـوي طـب، صحـت عامـه، فارمسـي، وترنري، طبيعـي علـوم، زراعـت، کېميـا، بيولـوژي او داسـې نـور پوهنځـي....

ج: ټولنيـز علومـو برخـه: حقـوق، شـرعيات، اداره عامـه او پاليسـي، ژورناليزم، ټولنيـز علـوم، ادبيات او داسـې نـور.....

ممکـن د ځينـو پوهنځيـو يـو شـمېر د ډيپارتمنتونـه د علومـو پـه يـوه برخـه او يـو شـمېر نـور يـې د علومـو پـه بلـې برخـې پـورې وتـړل شـي، خـو دا چـاره بـه د هغـې تخصصـي کمېټـې لـه خـوا ترسـره کېـږي، چـې د لـوړو زده کـړو وزارت پـه سـطحه د وړانديـز شـوي طرحـې د تطبيـق پـه موخـه جوړېـږي.

**دريـم**: د ازموينـې ملـي اداره د هېـواد پـه کچـه د ۱۲ ټولګيـو څخـه د فـارغ شـوو زده کوونکـو ازموينـه د پايتخـت او ولايتونـو پـه کچـه پـه بېلا بېلـو دورونـو کـې اخلـي، چې د يـوې معيـاري ازموينـې لـه اړخـه دا برخـه هـم لـه سـتونزو خالـي نـه ده، پـه يـوه داسـې ټوليـزه ازموينـه کـې چـې د اسـتعدادونه ارزونـې درجـه بنـدى يـې د نمـرو پـر اسـاس کېـږي، ضـروري ده چـې ټـول ګډونکوونکـي د مشـابه پوښـتنو، ټاکلـي وخـت او ټاکلـو شـرايطو تـه پـه پـام سـره ارزيابـي شـي. د ترسـره شـوې سـروې او علمـي څېړنـو پـر اسـاس هـم دا يـوه سـتونزه ښـوول شـوې وه، چـې مـورډ يـې حـل پـه دې توګـه وړانديـزوو.

حـل لاره: کـه چېرتـه د پوهنتـون او ښـوونځيو پـه سـطحه علـوم پـه ۳ برخـو وويشـو، کـولاى شـو پـه ټـول هېـواد کـې پـه يـوه ورځ د مشـابه پوښـتنو او ټاکلـو شـرايطو تـه پـه پـام سـره ازموينـه تنظيـم او واخلـو، چـې لـه مخـې بـه يـې د علومـو هـرې برخـې تـه د مشـابهو پوښـتنو پـر اسـاس ارزونـه ترسـره شـي.

**څلـورم** : د دې ټولګيـو د نصـاب او مفرداتـو جوړولـو تـر ټولـو غـوره لار دا ده، چـې لـوړو زده کـړو وزارت د پوهنـې او ازموينـو ملـي اداري سـره پـه همغـږۍ د رياضياتـو - انجنيـري علومـو، طبيعـي علومـو او ټولنيـز علومـو د څانګيـزې وېشـنې پربنـا داسـې يـوه تخصصـي کمېټـه جوړه کـړي، چـې غـړي يـې د هـر پوهنځـي او څانګـو پـه سـطحه د هغـو مضامينـو د زياتونـې وړانديـز وکـړي، چـې پـه ۱۰، ۱۱ او ۱۲ اختصاصـي ټولګيـو کـې بـه لوسـتل کېـږي. د پوهنـې وزارت د نصـاب جوړونـې رياسـت بـه شـته وړانديزونـو تـه پـه پـام سـره د ښـوونځيو د دې دوه اختصاصـي ټولګيـو لپـاره نصـاب جـوړ او ترتيبـوي.

داچـې پورتـه تـګلاره تطبيـق او عملـي شـي اړتيـا ده د لـوړو زده کـړو وزارت پـه کوربـه تـوب د پوهنـې وزارت او د ازموينو ملـي اداري ګـډ پـلاوى پـه يـو داسـې مکانيـزم کار

وکړي، چې له مخې يې څانګيزو برخو ته د نصاب او مفرداتو جوړوني ترڅنګ د ټولو فني او تخنيکي برخو کارونه بشپړ کړي.

**وړانديزونه**

۱. دا چې دا څېړنيزه مقاله د کانکور په ماهيتي برخه کې د يو مثبت تغيير په هدف ترسره شوې، نو په کار ده چې اړوندې اداري او وزارتونه يې د تطبيق په غرض لاس په کار شي.

۲. د عمومي تعليماتو په برخه کې څانګيزه وېشنه د وخت يوه اړتيا ده؛ وړانديز مو دا دی، چې لوړو زده کړو وزارت په دې برخه کې د چارو د ترسره کولو کوربه توب وکړي.

۳. پوهنې وزارت په نصاب کې د اغيزناک او ګټور تغيير په هدف په ماهيتي برخه کې د لوړو زده کړو وزارت له مشورو څخه ګټه واخلي.

٤. وړانديز مو دا دی، چې د ازمويني ملي اداره بايد په تخنيکي برخه کې ټول هغه موارد چې په دې څېړنه کې ورته اشاره شوې ده، تطبيق او عملي کړي.

**پايله**

د پايلې په توګه ويلای شو، د سروې د پايلو پر بنسټ په ماهيتي برخه کې د يوشمېر اړينو بدلونونو اړتيا ليدل کيدله ، چې موږ هغه مواردو ته په پام سره پيشنهادي طرحه جوړه کړه ،چې علوم مو په رياضياتو او انجنيري ، طبيعي او ټولنيزو برخو سره ووېشل. دا وېشنه به د لسم ټولګي په پيل کې کېږي، څکه چې هغه وخت کې به يو زده کونکی د بلوغيت مرحلې ته رسېدلی وي. د دې څېړنې د پايلو په تطبيق او عملي کېدو سره به د وخت د غوښتنو پر بنسټ په نصاب او مفرداتو کې مثبت او ګټور بدلون رامنځته شي او د علومو د څانګيزو ويشنو پربنا به پوهنتونونو ته په مسلکي پوهې لا سنبال ځوانان د يوې معياري ازمويني په واسطه جذب شي، چې د مشابهو پوښتنو او يوشان شرايطو پر اساس به يې ازموينه اخيستل شوې وي.

زده کوونکو ته د علومو د زده کړييزو برخو د ټاکنې پوره صلاحيت ورکول د زده کړو په بهير کې مثبت او ګټور رول لري، چې د دې حل لارې په واسطه دوی کولای شي، زده کړييزه برخه په خپلې لېوالتيا سره انتخاب کړي او د خپلې خوښې وړ څانګه کې له درې کلنې اختصاصي زده کړې وروسته، د استعداد او مهارت معلومولو په ملي ازموينه (پوهنتونونو ته دشموليت ازموينه) کې ګډون کوي، چې له مخې به يې د خپل استعداد پر اساس څانګه مشخصه کېږي، چې هم به د زده کونکي لېوالتيا او هم به يې د استعداد برخې ته توجه کيږي.

بله ګټه به يې دا وي چې د لوړو زده کړو او پوهنتونونو په کچه به څانګو او پوهنځيو ته، داسې محصل جذب شي، چې د تحصيلي نظام د لوړتيا او پياوړتيا سبب وګرځي، څکه له اصلاح شوي او روزل شوي بڼ څخه به مېوه په لاس راځي.

**اخځليکونه**


۱. پوهنې وزارت، د پوهنې قانون. عدليې وزارت، پرله پسې ګڼه ۹۵۵: کابل، ۱۳۸۷ل.
۲. خپلواک، محمد طاهر. د ښوونې او روزنې بنسټونه او اصول، ارشاد کتابپلورنځی: کابل، ۱۳۹۶ل.
۳. خپلواک، محمد طاهر. روزنيزه ارزونه، تمدن مطبعه: کابل، ۱۳۹۸ل.
٤. الزحيلي، وهبة. الفقه الاسلامي و ادلته، جلد۳، الطبعة الرابع، دارالفکر: دمشق، ۲۰۱۵م.
۵. عدليې وزارت، مدني قانون. پرله پسې ګڼه ۳۵۳، اصلاح افکار خپرندويه ټولنه: کابل، ۱۳۵۵ل.
٦. لوړو زده کړو وزارت، دلوړو زده کړو ملکي قانون. عدليې وزارت، پرله پسې ګڼه ۱۱۹۵: کابل، ۱۳۹۴ل.
۷. وزارت معارف، مرور مشترک تعليم و تربيه. راپور سالانه رياست عمومي پلان و ارزيابی، ۱۳۹۷ل.
۸. يونسيف، پيمان نامه جهانی حقوق کودک. مصوب مجمع عمومی سازمان ملل متحد، ۱۳۶۸ل.